

# سپین بغاوت

شاعر: مطیع الله تراب

شعري ټولګه

# سپین بغاوت

شاعر: مطیع الله تراب

3382

# سپین بغاوت

شاعر: مطیع الله تراب

راټولوونکی: قادر ګل خاورې منګل

(qadirkhawry@gmail.com)

کمپوز: قادر ګل خاورې منګل/ ۰۷۷۴۰۷۰۰۷۲

چاپکال: ۱۳۹۴ل/ ۲۰۱۵ز

چاپ وار: لومړی

ډیزاین: سپین سهار

چاپشمېر: ۱۴۰۰ ټوکه

چاپخې: اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

د چاپ حقوق له لیکوال سره خوندي دي

# ډالۍ

د افغانستان ټولو هغه ماشومانو ته چې د خپل پلار له سیوري نه محروم دي.

# د ډاکټر زلمي (زابلي) لیکنه

بسمه تعالی: د لوی او بخښونکي خدای(ج) په نامه

خوشحاله یم چی د وطن د یو واقعي، بیدار، ربښتیني، با درد او با جرأت بچي سره اشنا شوی یم هغه ځوان شاعر چې پخپلو له درد، سوز او پیغام نه ډک اشعارو سره یې ددې وطن اصلي بچیان د بې خبری او غفلت له خوبه راویښ کړي دي هر مجلس او حجره چېرې چې د شعر او شاعری میدان یې گرم وي بدون له تراب صاحب نه بې مالگې غوندې ښکاري دفعتاً د ټولو حضارو په ذهن کې د تراب صاحب د باجرأت جگ اواز بې طرفه انداز معقول ادبې اشعار ورگرځي.

تراب صاحب د یوې غریبې کورنۍ محصول دی خو غیرت او استعداد یې په اوسنیو شرایطو کې په پښتو شعر او ادب ساحه کې لږ شاعران درلودونکي د داسې استعداد دی زه ورته د پښتو ادب او شعر په ډگرّ کې لا نور توان او حوصله د خدای(ج) له درباره غواړم تر څو د خپلو مینه والو ادبي تنده یې تر یوه حده ماته کړې وي.

ډاکټر زلمی (زابلی)

د مشرانو جرگې د شکایاتو اورېدو کمیسیون رییس

# تراب د زمانې غږ

هره زمانه خپل خپل شخصیت لري، څوک د وخت زوی دی، څوک له وخت سره سم پیدا وي، څوک تر وخت مخکې، څوک تر وخت وروسته، څوک زمانې سره پر جګړه وي او چا سره زمانه په جنګ وي، د چا سر زمانې ته ټیټ وي او د چا په سر د زمانې سر لوړ وي:
سر ټیټې او سرلوړی دواړه د زمانې اولادونه دي.

د چـــــا د بغاوت سر تر پامیره رسېدلی
د چا ټیټ شوی سر د ملا تر تیره رسېدلی

تراب هم د خپلې زمانې یو (سړی) دی، یو بلبل دی، یو فریاد دی او یو غږ دی. دا غږ به پر چا ښه لګي پر چا به بد لګي، خو تراب د حقیقت او واقعیت په لټه کې دی. لومړی خپل رب ته په سجود دی او بیا د هغه له مخلوق سره پر جګړه دی، چې د خپل خالق له حکمونو سرغړاوی کوي، هغه مخلوق چې دده د کور دېوالونه یې نړولي دي.

تر هغو مې خړو خاورو کې پټ نکړئ
د پرېوتـــــو دېـــــوالو پوښتـــــنه وکړه

د پرېوتو دېوالو تر څنګ په دنګو او مجللو ماڼیو کې هم د روان زر

کلن ظلم له شته والي پرده پورته کوي.

دلته په ارگ کې د پښتو ژبې ته کولپ پـــروت دی
څوک یې چې وایي د هغو ژبې ته کولپ پروت دی

که د ظلم او جبر څپې هر څومره گرمې وي، خو دی بیا هم د قوي عزم څښتن دی، خپله شمله نه ټیټوي.

تر هغو پورې به هسکې زمور شملې وي
چې تر کومه ددې غرو څوکې تېرې وي

تراب د خپلې ټولنې له منفي واقعیتونو پرده کوي، پر هغو خورېږي او پخپل کلام کې داسې پیغامونه انتقالوي چې کېدی شي هغو ته په پام سره د یادو ټولنیزو رنځونو د درملنې لپاره یوه نسخه وگڼل شي.

خلک د بل څټ غوځوي خو چاړه خپله لري
پښتون د ورور سر غوڅوي چاړه له بله اخلي

هر چا چې وکړل، خو تمام شول د پښتون په نامه
پـــه دې باران کې به له ډېرو نه پڼې ښویـــــېږي

مطیع الله تراب داسې یو څوک دی، چې د تېرو دیارلسو کلونو په بهیر کې یې د زیاتو منفي پېښو په باب خپل غبرگون څرگند کړی او دا غبرگون له پوره ملي، اخلاقي او هنري جرأت سره ملگری و. د تراب همدا ملي جرأت و چې په هره مشاعره او ادبي ناسته کې چې

به ده حضور درلود، نو هغې مشاعرې به څانګړی لذت او کیفیت درلود. تراب ددې کیفیت مالګه وه پر خلکو د تراب کلام څکه ښه لګېده چې تراب د خلکو د زړه خبره کوله، ده له هغه چا څخه پوښتنه کوله چې چا ترې پوښتنه نشوه کولای، دده دا نظم: ((داسې څوک شته چې دې راغلو نه پوښتنه وکړي؟)) د هر هېواد وال په ژبه و. ددې خوږلنی او محبوبیت علت دا و چې دا مهال چا دا خبره نشوه کولای او یا یې د تراب په شان په زغرده نشوه کولای. د تراب شاعري نه یوازې د ملي او وطني احساساتو څرګندویه ده، بلکې دده شاعري د ژوند د نورو ټولنیزو او عاطفي خواوو پخه انځورونه هم کوي. کوم نظم چې ده خپلې مور ته لیکلی او ډالۍ کړی او د ژوندون ټلوېزیون په یوه څانګړې مشاعره کې چې دده په ویاړ جوړه شوې وه- ده هلته ولوست، نو زما په ګډون یې د ټولو ناستو ګډونوالو له سترګو اوښکې وڅڅولې. کله چې له ټلوېزیون څخه د تراب څانګړې مشاعره خپره شوه نو ګڼو هېوادوالو د هغې د (CD) غوښتنه وکړه. تر (یو زر) زیاتې (سي ډي ګانې) مو جوړې او د تراب صاحب مینه والو ته مو ډالۍ کړې، یوټیوب کې د تراب د شاعرۍ څانګړي کلیپونه او د ګڼو هېواد والو په ګرځنده ټلیفونونو کې دده پخپله ژبه، دده کلام او ویډیوګانې له ده سره زموږ د هیوادوالو د زیاتې مینې څرګندونه کوي اوس خو یې یو شمېر هېوادوال په ادبي غونډو سربېره ګڼو ټولنیزو، علمي او ان شخصي غونډو ته هم رابولي او دده له کلام څخه څانګړی خوند اخلي.

دده کلام اکثره د غزل او مقیدو نظمونو په کالبونو کې افاده کېږي

تراب خپله خپل نظم په داسې ښکلي انداز کې لولي چې ځانګړې لذت او قوت لري او دده خپل ستايل ګڼل کېږي. لويو مشاعرو کې دده د شعر د جذابيت له امله د ګډونوالو احساسات داسې راپارېږي چې ان د کنټرول ور نه وي.

دا دده د کلام د قوت او کيفيت څرګندوی دی د تراب په کلام کې ولسي رنګ هم جوت دی، ځينو ځايونو کې لهجوي تاثيرات هم ورڅخه څرګندېږي. په غزل کې هم پخې تجربې او په نظم کې هم. نظمونه يې پر عوامو او غزل يې پر خواصو خپل خپل تاثيرات لري د يو غزل يو څوبيتونه يې ولولئ:

مونږه چې هر څومره پټوله پــــټه کړې مــو ده
هغـــه خــــبره د جومــــات امــــام تــــه ورســــېده
د يوې بلې ضرورت دی چې پرې بيا راټول شو
ملالـــۍ ســـتا هغـــه ټپـــه انـــجام تـــه ورســـېده
خانه چې ما کړو لـو او لـُور هغـه زما پـه اوږو
هغـه بـوجۍ سـتا د غلـې ګـودام تـه ورسـېده

د تراب شاعري له دې کبله ځلکو ته خوند ورکوي چې دی د دربار او سرکار مخالف دی. دا سرکار او دربار بيا له ولس سره مخالف دی او تر دې دمه يې له ولس سره پخلاينه نده شوې، تراب د ولس همدا درد او همدا پيغام پخپل کلام کې ځای کړی، نو ځکه ولس ته خوند ورکوي، د همدغې ځانګړتيا له مخې تراب ته له درباره لرې د يو ولسي شاعر خطاب کولای شو. تر هغه پورې چې تراب دا حالت په

خپل کلام کې ساتي، نو د ولس په زړه کې به ځای لري او که خبره معکوس شوه، نو بیا به د تراب او ولس تر منځ همدومره واټن وي. لکه اوس چې د ولس او ولسمشر تر منځ دی.

د تراب شاعري له بېلابېلو پیغامونو ډکه ده، زه نه غواړم چې ټولې خبرې په دې یوط سریزې کې را لنډې کړم، اکثره هېوادوال تر ما تراب ښه پېژني، زه نور د دوی او د تراب د شاعرۍ تر منځ نه خنډ کېږم تراب ته د داسې او تر دې لا هم ښې شاعرۍ هیله لرم.

په فرهنگي مینه

محمد اسمعیل یون

# مننه

هر څوک دا تمه او توقع لري چې يو څهٔ وليکي له مختلفو لارو او اثارو او سيټونو څخه استفاده وکړي خو هغه ډېر کم شمېر خلک دي، چې د ليکلو توان لري، چې له هغې جملط څخه تکړه ليکوال او اديب قادر ګل (خاورې منګل) دی، چې ډېرې شپې او ورځې يې زما د متفرقو اشعارو په راټولولو باندې سبا کړې دي او زما شفاهي اشعار يې را ټول کړي او ښکلی ارزښتناک اثر يې ترې جوړ کړ، او د تل لپاره يې ددې خاورې د بچيانو د علمي سطحې د لوړاوي فکر کړی دی، د ښوونځيو زده کوونکي او د پوهنتون محصلين يې چې ددې وطن راتلونکی جوړوي، هڅولي تر څو ځانونه د علميت او نېکو اخلاقو په ګاڼه سمبال کړي، د کتاب راټولوونکي ته لوی څښتن تعالی د وطنپالنې لوړ احساس او د علميت ښتره هستې ورکړې ده د الله تعالی له درباره ورته د کاميابۍ غوښتونکی يم.

او همدارنګه د ملي تجار حبیب الله اپمل او یو بل تن ملي تجار حاجي نوید تلاش نه هم نړۍ مننه کوم چې ددې کتاب په چاپولو کې یې راسره بشپړه مالي مرسته کړې.

لشکر ګاه ښار

د ژوندون ټلوېزیون له بنسټ اېښودونکي پوهندوی محمد اسمعیل یون څخه نړۍ نړۍ مننه کوم چې تل له مورړ سره د کتاب د لارښوونکي په توګه پاتې شوی.

د مشرانو جرګې د شکایاتو اورېدو کمېسیون له رییس ډاکټر زلمي (زابلي) نه هم مننه کوم چې د کتاب ټول مالي لګښت ته یې اوږه ورکړه.

د دانش خپرندویې ټولنې د تخنیکي څانګې له مسوولینو څخه هم نړۍ نړۍ مننه کوم چې زما د نورو کتابونو تر څنګ یې ددغه ارزښتناک کتاب چاپ په ورین تندي وکړ، کور دې ودان وي.

په پای کې ټولو دوستانو ته له لوی څښتن تعالی څخه د ژوند په ټولو کارونو کې کامیابي غواړم، تل دې ژوندي وي.

په خورا درنښت

شاعر مطیع الله تراب/ (خوست)

مخکې مې ویلي دي خپل ځان ته چې زه ښه پوهېږم
اوس دومره پوهه شوم په ځان باندې چې زه نه پوهېږم

بس ته پوهېږې معالج یې ته حکم بادره
له منتها تر انتها پورې قیوم بادره

له دبدبې شان او شوکت چې هغه تا ورکړی
سره د دومره لوی طاقت چې هغه تا ورکړی

غر په اوږو بار دی چې انسان مسؤولیت نه اخلي
توان به یې لري خو دومره گران مسؤولیت نه اخلي

چې ستا په وړاندې دا خپل کړي گناهونه گورم
یا په دې خپلو اوږو بار مسؤولیتونه گورم

وایم چې وتښتم نو ستا له ځمکې چیرته لاړ شم
چې روان شوی له کوم ځای یم هلته بېرته لاړ شم

د بغاوت په هره لاره ستا پولیس ولاړ دي
سل او زر نه دي بې شماره ستا پولیس ولاړ دي

اوس ستا په څمکه له ادبه په ملا تیټ روان یم
دا ستا له قهره له عذبه په ملا تیټ روان یم

بس زه اوس پوه شوم چې دا څمکه او آسمانونه ستا دي
اوبه، هوا، کانې او بوټي، دښتې او غرونه ستا دي

تا په یواځې ودرولي آسمانونه پورته
تا په دې څمکه ټک وهلي دي دا غرونه پورته

زما د عقل په کڅوړه کې له دې نه پورته
ته به ډېر لوی یې خو زما له اندازې نه پورته

ترمخ پرتو دې ننګونو ته حیران پاتې یم
دریغه د خپل ځان غولولو ته حیران پاتې یم

تاو مې له غاړې ګواکي خوري مې غبرګ ماران شي راته
زما دا خپل دواړه لاسونه قاتلان شي راته

چې زنکدن قبر د حشر یاد په زړه راشي
عقل مې کار پرېږدي په سترګو مې تیاره راشي

د ستا د دوزخ له ګرمۍ خونې مې دا زړه ودرېږي
غوني مې ځيګ شي په وجود مې ټول وېښته ودرېږي

هغلته تلونکې ټولې لارې به شيطان جوړوي
چې د سون توکي به يې ډېرې او انسانان جوړوي

د انس او جن او د ډبرو په خوړلو راشي
وبه پړسېږي له ګرمۍ به په چودلو راشي

سترګې، غوړونه او وښکي به مو يودم وچوي
د خدای له ويرې به مو زړه لکه غنم وچوي

مغرور سرونه به ښنګرو ته راغورځوي
کله چې دا لوړې ژورو ته راغورځوي

کله چې دا غرونه ايره ايره ذاره ذاره شي
کله چې دا ځمکه د وسپنې يوه تخته شي

کله چې دا آسمان کړکۍ وکړي درزونه واخلي
ګله چې دا د سمندر اوبه اورونه واخلي

واه د انسـان نـازک وجـود بـه هغـه تـوان ولـري
یـا ابـوجـهل، یـا نـمرود بـه هغـه تـوان ولـري

هلـته نـه قـوم، نـه توکـم، نـه نـژاد چلېږي
نه تـور او سپـین شته دي، نه نـوم د کـوم هېـواد چلېږي

نـو زه حیـران تـه وا دې کانـو دې خدایانـو تـه یـم
تعجـب پاتـې دې کانـو بنداګانـو تـه یـم

هغـه غـریب لـه څـانه مـچ قـدرې شړلـی نـه شـي
دا خـو لا پرېـږده یـو قـدم پـه بـل کېښولـی نـه شـي

زمـا معبـوده زه لـه دې خلکـو امـان غـواړم
تېـر دې لـه داسـې پـرمختګـه مسلـمان غـواړم

جـنت دې نـه غـواړم سـتا در یادومـه یـې نـه
کـه دې پخپلـه راتـه راکـړ غـورځومـه یـې نـه

مـاته څـه مـه وایـه فقـط یـو نجـات راکـړه
مـاته د قـبر د پولـیسو نـه بـرات راکـړه

# نظم

د چا د بغاوت سر تر پامیره رسېدلی
او د چا ټیټ شوی سر د ملا تر تیره رسېدلی
سره د بغاوت جانانه ارتې تنې ګرځې
تعجب نه دی په دومره رقیبانو کې ژوندون
اې پېښ نه شو د چا مخ ته په دوو ګوتو لمر
اخیر هم برابر شو هغه سر او د غره سر
اورمه په ترنوم په الهو مست دي شیخان
دربار ته دې راغلي دي د لرې مریدان
ته چیرته ئې جنانه ګل کځونو ته راځه
د کلي هغه دنګو چینارونو ته راځه
چې څرنګه په لمر پسې د لمر ګلونه اوړي
دا ستا مخور مخ پسې بلاه مخونه اوړي
شوې تتې آینو د مخ څېرې درپسې ترکې
نور چوې له انتظار زوړنه او زرې درپسې ترکې
اشنا بویه چې لاړې یوسف مخی درنه جوړ شو
یو څرک په غرونو پاتې یې لمرمخی درنه جوړ شو
تت مه شه تر منزله ستا د لارې مشالونه
راښه شه درته دا سپوږمۍ او ستوري ګګلیچونه
منو چې دلته وسپنه ایمان دي ټکر شوي
څو ځل د رقیب سر او زما سر سرپه سر شوي

# وصیت

د تـراب د مـرګ وصیت پـه غـور واوري
د دې کلـــي او ښاریـــو پـــوښتنه وکـــه

د اتـهک د سیند پـر غـاړه ولاړ شـه
د خــــټکو یوسفـــزو پـــوښتنه وکـــه

پـه قـرار قـرا ر مـې یـوسه صـوابي تـه
د یـــوسف او شېربانـــو پـــوښتنه وکـــه

جـنازه مـې ملکـنډ پـه څوکـو کـېږده
د مومـــندو باجـــاوړو پـــوښتنه وکـــه

پـه مـزه مـزه مـې کـوز کـه اشـنغر تـه
پـه مـردان کـې د کوڅـو پـوښتنه وکـه

څـه خـلیل او داودزي پـه مـا خـبر کـه
د ادم او د درخـــو پـــوښتنه وکـــه

پېښور دره کوهاټ در نه هېر نه شي
د هنگو دواوو پوښتنه وکه

څه په ټل زما د مرگ یوه ټپه شه
د میرلي د اورشو پوښتنه وکه

چې د بنو مازدیگر درنه هېر نه شي
د وزیرو بنوڅو پوښتنه وکه

چې د کوټې او چمن په لاره لاړ شې
د کاکړو د پټکو پوښتنه وکه

بیا په بیړه بیړه راشه کورمې خور ته
د هغې د سرو لاسو پوښتنه وکه

هلته زما د ادبي سنگر یاران دي
په سده کې د هغو پوښتنه وکه

څه بنگښو علیشیرزیو یوروگوزو ته
د توتکي د چینارو پوښتنبه وکه

Scanned by CamScanner

د پکتیا ټولو قومو ته لاس اوچت که
د منګلو د خاخو پوښتنه وکه

د تیرا په تورو غرونو به رواوړې
د خیبر د افریدو پوښتنه وکه

د خاطر د خاطرو به خاطر وکړې
د همزه د تاترو پوښتنه وکه

د شمشاد په جګو څوکو سلام وایه
په شلمان کې د تاپو پوښتنه وکه

هزار ناو او باسول نه چې ورتېر شې
په ډاګو کې د خېمو پوښتنه وکه

نارنج ګل مې د پټکي هر ول کې کېږده
ننګرهارکې د باغو پوښتنه وکه

د ملنګ یو څو اشعار به چاته یاد وي
اخوا دېخوا د باندو پوښتنه وکه

Scanned by CamScanner

د کــنړ پــه سردرو جــرگه جــرگه شــه
د بېـهـــسودو دورنټـــو پـــوښتنه وکـــه

په لغمان کـې مهترلام بابـا زيـارت دی
مـازدیـــگر د تیرگـــاړو پـــوښتنه وکـــه

سیرشاهـي پاچیراگـام درنـه هېر نه شـي
چپرهـارکـــې د ډاگـــو پـــوښتنه وکـــه

د کفـن پټـکی مـې کـوږ پـه سر راکېـږده
بـــیا ورځـــه د خـــوگیاڼو پـــوښتنه وکـــه

د تـــور غــر او د ســور رود پــه لــویه لاره
د نـــاري نـــاري برجـــو پـــوښتبنه وکـــه

د سپین غـر د جـگ دالان لاندې مـې کېـږده
د څخـــوبي د اوبـــو پـــوښتنه وکـــه

وطـنـی شـنه لـوپټه پـه مـا خـوره کـه
د سرگـــړي د وښـــو پوښتـــنه وکـــه

ترهغې مې خړو خاورو کې پټ نه کړې
د پرېوتو دېوالو پوښتنه وکه

تواقف مې جنازې لپاره واخله
دوارې غارې د مورچو پوښتنه وکه

په ما خاورې کړه انبار چې ډز وانه ورم
په مزار مې د ډېوو پوښتنه وکه

کورمه

# د ارگ ژبه

دلته په ارگ کې د پښتو ژبې ته کولپ پروت دی
څوک چې یې وایي د هغو ژبې ته کولپ پروت دی

د ارگ کلي د خلیلي او له فهیم سره ده
اوس د عطاء، دوستم، سپنتا او له عظیم سره ده

ویر، واویلا او غمرازي په پښتو ژبه کېږي
میدان گټل او سربازي په پښتو ژبه کېږي

پښتو څرخي پورې ترلې او د دار ژبه شوه
پښتو فقط د جوالي او څوکیدار ژبه شوه

تگ او راتگ او خوشحالي په بله ژبه کېږي
طب، اقتصاد، انجنیري په بله ژبه کېږي

پښتو اخیر هم د مجبور وزیرستان ژبه شوه
پښتو په لوی لاس د ملا او طالب جان ژبه شوه

حمــزه ویــل زه بــه پښــتو ســره جنــت تــه ځــمه
زه بـــه د واړه گنـــاهو ســـره جنــت تـــه ځـــمه

زه پکې وسـوم په پښـتو کې مـې پوښتی ماتې شـوې
پخپل انگـړ پخپلـو غـرو کې مـې پوښـتی ماتـې شـوې

پښــتو د بـاد پـه شـا ســوره ده د بـاد سر تـه خـېژي
ساه یـې په سفـیدو ده پـه وتـو د شمـشاد سر تـه خـېژي

د بـــاد پـــه نیلـــی بـــه د بـــاد ســـرته ختلـــي وي خـــو
منـو چـې پښـتو بـه د شمـشاد سر تـه ختلـي وي خـو

د ملکـــــنډ او کاړمــــاره ښکـــــته وغـورځـــــېده
د لـوړ پـامیر لـه دنـگ چیـناره ښکـته وغـورځــېده

کـــډه پـــه شـــا لـــه ښـــاره وځـــي بیابـــان کـــې اوسي
پښـــتو اوس یـــا وزیـرستـــان یـــا قبـرســـتان کـــې اوسي

زه هــــم ترغـــرونو تـــر ارگـــه پـــورې ورســـېدم
بـــویه اوس پوهـــه شـــوم چـې تـر مـرگه پـورې ورسـېدم

پښتو په ارگ کې د امیر شېر علي خان ژبه وه
پښتو په ارگ کې د وزیر محمد گل خان ژبه وه

پښتو په ارگ کې د ملاصاحب رباني ژبه وه
پښتو هغه وخت کې سوچه مسلماني ژبه وه

د قیمتونو ارزاني هم چا ونه منله
طالباني مسلماني هم چا ونه منله

په ارگ کې ژبه د استاد رباني ژبه ده
نیمه تاجکه او نیمه ایراني ژبه ده

پښتون په ارگ دننه ایله خپله کپرۍ ساتلې
یا خپله خېټه ساتي یا یې خپله ځوکۍ ساتلې

کابله ته د خپل ښایست قاتلان نه پېژنې
پخپل وجود کې د لستوڼي ماران نه پېژنې

چا چې زخمي کړلې چا چې بې تابوته پرېښوې
کابله ته یې چې په وینو کې گل گل پرېښوې

هغوی اوس اولیت حق د خپل ځان بولي
ما تاته نه پرېږدي او تاته مې توان بولي

کابله نور زه چپه خوله پاتې کیدلی نه شم
نور پخپل وطن کې مهاجر ځان ته ویلی نه شم

دا تصویرونه او چوکونه او گلخانې د چا دي
ستا په سینه دا لوړ پوړیزې ودانۍ د چا دي

سپین سترگی نه یم د فشار تکلیف هم نه لرمه
زورور هم نه یم د ډار تکلیف هم نه لرمه

دی وایي ما د گندومک معاهده نه ده کړې
ما د تاجک او د اوزبک معاهده نه ده کړې

دی وایي چې نوم دې د افغان له تذکرې ووځي
زه وایم چې دی دې د افغان له دایرې ووځي

# خاطرې

بیا مې تېر یادونه را تازه شول
که خوله پټې پرهارونه را تازه شول

د ازاد پښتونستان سندرې اورم
له اټکه تر پولان سندرې اورم
خو ډېورنډ په منځه ملا یمه وهلی
که هر څو د ملنګ جان سندرې اورم

پښتانه په وینو سره کاپري ناست دي
شنې برقې په سرو وینو تېکبري ناست دي
سپین کفن او سپینې جنډې له سره تاو کړي
تندغري کابلي پېښوري ناست دي

کـه ټوپـک مـې پـه مـلا مـات کـړلو پښـتون يـم
بيـا رومـي يـم سکـندر يـم افلاطـون يـم
پښـتونخـوا پـه بـابولالـو نـه جـوړېږي
زه پـرون ددې حالتـو نـه راسـتون يـم

افغـان پـه ننـگ تـړليه خـوشال خـانه
پـه وصـيت دې سـودا وشـولـه ارزانـه
تـا ويلـي کـه پښتـون د چـا غـلام شـو
بـورنوونکـې سپـکه لـوبـه ده روانـه

زمـا دالان زمـا انگـړ بـه څـوک ورپېژنـي
زمـا قاتـل ماپـسې گرخـي خـو مـا نـه پېژنـي
هـغه دی راغـلو زمـا نـه زمـا ژونـد اخـلي
يو څو خولې پېټي يې تر شا دي خـو مـا نه پېژنـي

# غزل

د انبار انبار غمونو منځ کې سوځم
لکه خس د تنارونو منځ کې سوځم

لکه د جوار بټ په ګرمو شګو پروت یم
تاو د خپلو ارمانونو منځ کې سوځم

د فرهارپه دود مې خوله په وینو سره ده
د ملهم ملهم لاسونو منځ کې سوځم

په ځلوښتو کې مې ډډ پر ډډ ون راغی
د زلمیو چینارونو منځ کې سوځم

د یعقـــوب د مینـــې تـــاو رانـــه وباســـي
د یـوســف غـونـدې اورنـــو مـنځ کـې سوځـــم

د هـــاروت غـــوندې ځـــوړند یمـــه لـــه ژبـــې
زه د خـپلـــو گناهـونـــو مـــنځ کـــې سوځـــم

عنقبـوت غونـدې پـــه خـــپلو لـــومو بـــند یـــم
د نـــري تارونـــو مـــنځ کـــې سوځـــم

لـــکه ونـــه وهـــل ځـــورم لـــه خپلـــه لاســـه
د تبرونـــو او گـواښـونـــو مـــنځ کـــې سوځـــم

# غزل

ژبــه مــې داســـې پــه زخمونــو کـــې خــوله پرتــه وي
لـــکه چـــې شـــمع خـــپلو وینـــو کـــې ویـــده پرتـــه وي

زه د وطـــن هـــر یـــو پرېـــوتی دېـــوال داســــې گـــڼم
لـــکه چـــې مـــا تـــه د زلمـــي ورور جنـــازه پرتـــه وي

خپـــل سرنـــوشت او عقوبـــت تـــه چـــې نظـــر کومـــه
لـــکه پـــه دښـــته کـــې چـــې بـــې شـــپونه رمـــه پرتـــه وي

مـــا د هـــر زخـــم هـــره څېـــکه داســـې ولـــغړوي
لـــکه اوبـــو کـــې چـــې دکـــب خـــولې تـــه کونـــډه پرتـــه وي

لــکه مرغــه هــره گــرځي پنجــرې نــه خــولــه وبــاسي
الـوتــی نـه شي هــر طــرف تــه يــې پنجــره پـرتــه وي

د وس په وخت کې مې ګناه داسې بوزدل کړي
لــکه چې ښنګـه د زاهــد خــوله کــې توبـه پرتــه وي

د خلکو منځ کې مې ارمـان داســې ګـل ګـل ښـکاري
لـــــکه ډولـــــی چـــــې د زلميـــــو پـــــر اوږه پـــــرته وي

داســـې مــو وخــوړو د خـــلکو مـــال پــه زور تـــرابه
لـــکه تـــر مــخ مـــو غنميــت او يـــا ولجـــه پـــرته وي

# سپین شعر

لا مې د ژوند کیسه تمامه نه ده
راته منزل راته مورچل پاتې دی
چیرته به خلکو بې وصیته مرمه
د کوم مابنام د کوم دېوال غاړې ته
جنگ تجارت او کار او بارجوړ شوی
سرونه خرخ شول د وړیو په تول
تول ته هم داسې منصفان ناست دي
وینه څکي بیا یې قیمت لگوي
د کوم سېلاب مخې ته بند وتړم
خټین کورونه یې رانه تول یوړل
اې د بې پښو او بې لاسو کلیه
اې د کپریو او د زلمو هدیرې

دا څـمـکه وشکـوئ راوځـئ تـرېنه
راتـه پېغور یـې سـتا د وینو راکـړو
مـدهـوش د حـورو په پالنگ پـراته یئ
راځـم دې څـپل بـې برخلـیکه ژونـد ته
څـه سر ویشته ورتـه په کـار ده کـه نه
دا تحو ل راځـي په هـر یو مـلک کـې
زمونږ تـحول لـکـهـا سرونـه یوسـي
اې گـاونډیـانـو دالله په نـامـه
بس مـوږه پرېږدئ سولـه مـه راولئ
الـم بـردارو د نـړۍ په سطـحه
ډېر مـو لـوټـلـي یـو د امـن په نـوم
یـو خـوا د سولـې امـن چیغـې وهـئ
بـل خـوا وسلـې او مهمـات رادرومـي
هـلتـه حـقـوق د بشریـت غـواړئ
نـو بیا بشر پـه بشر ولـې وژنـئ
بشر دوستانـو قناعـت غـواړم
څنگه ونـه چـوم څنگه اور وانـخلـم

**کورمه سده**

# داستان

مـاړه پـه دې فکـر کـې هـر سـهار لـه کـوره وځـي
چـې نـن بـه بيـا د کـوم غـريب مـرى لـه لـوره وځـي

تـه بـه دا وايـي چـې بېګاه شپه دې نهـر پاتـې دى
وړى او تـــږى جــل وهلـــى مسافـــر پاتـــې دى

دا يـو نن نه دى ټوله مياشت يـې مسلسل پوخ كـړى
درتـه بـه وايـي مـونږ لـه شـوقه نن شوتـل پـوخ كـړى

ګرځي پـه ځمكـه خـو دعـوې بـه ستړې ستړې كـوي
پـه تليفـــون كـــې بـــه وړې وړې خـــبرې كـــوي

درتـــه د عـــذر مخـــكې لـــس وارې لمـــن اچـــوي
غـريب مېلـمه تـه پـه سره اور خپلـه خـرمن اچـوي

منـــو د ژونـــد يـــوه اړينـــه وسيلـــه ده پيســـه
د هـــوسا ژونـــد د تـــېرولو دپـــاره بنـــه ده پيســـه

ستا سرمایې او شتمنۍ باندې مې زړه بد نه دی
ستا لوړ پوړیزې ودانۍ باندې زړه بد نه دی

خو ګاونډیه یوه ګیله کوم له تانه تا ته
زه خو دې لوخ کړمه ښکارېږم له هر خوانه تا ته

اوړی او ژمی په کوټه کې بندیوان پروت یم
د لمر او سیوري نه محروم شوم په زندان پروت یم

نو زه مجبوریم چې په تا باندې خپل کور خرڅ کړم
پوله پټې د پلار هډوکي لو او لور خرڅ کړم

زما د لالټين تته رڼا باندې ته نه پوهېږې
ددې تیارې خونې چوپتیا باندې ته نه پوهېږې

د خپلې ښځې په سوالي نیظر زه ښه پوهېږم
د دې پېغور په اخري خطر زه ښه پوهېږم

په دې وطن کې یوه بله غموونکې نخسه
ډېر په یو بل خرڅوی دا دردونکې نخسه

د بارگینونو راکړه ورکړه هم په سود تکیه ده
نغدې په لس او قرض د شلو په بهبود تکیه ده

رهنمایي معملات هم ورسره هذالقیاس
بعضو بانکونو هم اغوستی دی هم دغه لباس

زنا او سود شراب دې لوی لوی گناهونه لري
دا لار ازغنه ده دا لاره گړنگونه لري

له بل طرفه کلتوري یرغل تر دوو واښتو
له ښاره ووتو تر کلیو او باندو واوښتو

سلطان محمده د موجوده دربار په ژبه
د چا قبضه او محاصره ده ددې ښار په ژبه

صبر او زغم او حوصله اخر ترکومه پورې
سوداگري او معامله اخر ترکومه پورې

څلورنیم زره پښتانه دښتې لیلې وخوړل
یو خونړي سړي یوې خونړۍ شپې وخوړل

چا یې په یاد باندې نه څلی نه مزار جوړ کړ
خو په ایراني دیپلوماتانو یې یادګار جوړ کړ

د کتابونو چاپ کولو باندې کار نه کېږي
د اخبارو په مفتو ویشلو باندې کار نه کېږي

ترڅو چې ژبه رسمي نه کړو په دربار باندې
تر هغې پورې به کښېنو په قرار باندې

د خوشال خان او محمد خان لمسیو ماته غوړ شئ
د ببرک خان او محمدګل خان لمسیو ماته غوږ شئ

ژبه اوس وینه غواړي سر غواړي توان غواړي
اوس زولنې غواړي سولۍ غواړي زندان غواړي

په ګل بانو او په ګل پاڼو پښتو چیرته کېږي
په دې ګورګورو او ممانڼو پښتو چیرته کېږي

سر له سبا یا په واز کومي دا اعلان په کار دی
پاس په آمو او اټک لوی پښتونستان په کار دی

تــوصیف د شونــډو او د زلــفو او ګـورګــورو کــېږي
پرمخــتګ چیرتــه ددې ژبــې پــه ســندرو کــېږي

ډرامــه فلـم او ثقـافت هـم ستاسـو واړنـدې پـروت دی
د جینکـو نیم لـوڅ وجود پـه کـامره بانـډی پـروت دی

ددې لایـق نـه دي چـې دوی دې زمـونږ زړو کـې کېنـي
دا هیروګـان دې د هـیرا مـنډی بـنګـلو کـې کـېني

عـقل یـې نـه منـي چـې ګـل پرېـږدي ازغـي ښـکلوي
د مسلمــان وطــن کـافـر مـې پـه تـنـدي ښکلــوي

د عــمران خــان خرېلــې خـولــه او د جهـاد فتــوا
مــا تــه رایــاد شي شـیخ چلــي او د مــیرداد فتــوا

د سرکــې بـوتلــه دا دم ګیـری او مفتــي کلــه شــوې
فــضل الرحــمن نــصرالله او اشرافــي کلــه شــوې

لــه ډېـره درده لــه پـړسوبــه پــه چوډولـو راغلــه
د پرهـرونــو سره وښکــي پــه زیاتبــدلو راغلــه

سود،کاروبار، شراب، مباح په زنا څوک سنگ سار شو
چیرته یو غل په افغانستان کې سر عام په دار شو

ښایي رشوت د اساسي قانون ماده وي کومه
مونږ به خبر نه یو شاید نوې کیسه وي کومه

که وي حرام خپله قاضي صاحب به نه اخیستو
پوهاند، مفتي او مستوفي صاحب به نه اخیستو

دا نیکټایي او د قاضي صاحب غاړه بند وگورئ
په افغانستان کې دا په ځان نوی ریشخند وگورئ

دا سرتور سر انگریزی ږیره پښتون پال صاحب دی
نوی له غربه گمرک شوی څارنوال صاحب دی

حق لرم وپوښتم وزیر او د جمهور صاحب نه
بیا د رییس او د والي او د مامور صاحب نه

څه به کوئ بیا که مو دغه لنگه غوا وچه شوه
په مؤسسو کې د ډالرو دا تنخوا وچه شوه

ستـا دا عسکـر بـه بـیا پـه درې زره تنـخوا کـار وکـي
دا بـاډیگـارډ بـه بـې کـوفنه سـتا تـرخوا کـار وکـي

ستاسـو جـهـاد او سربښندنـې تـر همـدې خایـه وې
ستاسـو شـعار او گـوت ځنډنـې تـر همـدې خایـه وې

داسـې مسلـم مسلـم یـاري دې پـه گولـۍ ولگـي
د بـل د واک لانـدې پټکـی دې پـه گـولـۍ ولگـي

وربښمین چینجـی شوې د کاغـذ کوتي کـې ژونـد تېـروې
شوې رامحدود اوس د کاغـذ کـوتـي کـې ژونـد تېـروې

لکـه شـاهین کـړې پنجـې کـوتـرې نـه مـاتـوې
اوس پـه سـپین عـرخـورې ورې وزرې نـه مـاتـوې

د خـوب گولۍ خورې په سوگند وایه خوب ځنگه درځي
د غـلامۍ په سپین مـړوند وایـه خـوب ځنگـه درځي

د بـل ښکنځلـې مـو لـه حلقـه ځنگـه تېـرې شولـې
آ د میاوالـې او اکـوړي کیـږدۍ مـو هیـرې شولـې

بـــج شـــه مهاجـــره او خـــړ سریـــه کابلـــیه مـــړه
روك جـــاو آور کیـــا کـــرې تَـــم ادرســـې چلیـــه مـــړه

هـــزارگیه تـــا پـــه ایـــران کـــې جوالـــي تـــوب نـــه کـــاوه
ازبـــک تاجکـــه تـــا او خـــدای تـــا موچـــې تـــوب نـــه کـــاوه

پښـــتونه تـــا تـــر نـــن پرونـــه لـــوړ نـــه خرڅـــول
تـــا بنجـــاره لوښـــي کبـــاړ او پاپـــړ نـــه خرڅـــول

نـــن ته وزیر یـــې ته وکیل یـــې ته ریـیس صـاحب یـــې
ته ډگـــروال ډگـــرجـــنرال او تـــه پولیس صـــاحب یـــې

پخـــې بنگلـــې لکـــس مـــوټرې او شرکتونـــه لـــرې
د چـــین جاپـــان او د روســـیې تجارتونـــه لـــرې

همـــدا مـــو بـــس دي د قیامـــت لـــه ورځـــې ووېرېـــږئ
مـــه خـــورئ حـــرام نـــور د شـــدت لـــه ورځـــې ووېرېـــږئ

د ستراټیژیـــک پـــلان همـــدا کـــړی ســـواد مـــو بـــس دی
ددې وطـــن سره همـــدا کـــړی جـــفا مـــو بـــس دی

د گل خانې ماڼۍ سرداره درته څه ووایم
وه د واړه میرویس جان پلاره درته څه ووایم

څومره چې دا سرکاري غله په دې خپل حال پاتې شي
خاورې په سر به افغانستان کې پانګوال پاتې شي

د زور واکانو او شتمنو پرې غوبل درګر دی
په سلطاني ډاکونو چور او چپلول درګر دی

لاسونه نیم شه څوک چې دا افغانستان نیموي
افغانستان نه دی هغوی به زمونګ ځان نیموي

زه دا خپل ځان دومره اسانه چاته نه ورکوم
نور دې وړیا افغانستانه چاته نه ورکوم

پارلمان دا وارې ایله د سړي توب کار وکه
په اوړو کې مالګه برابر یې د نرتوب کار وکه

یو کاڼی سرلاندې بل کاڼی په سر باندې ښه دی
د سر د ځمکې په سرنه د ځمکې لاندې ښه دی

هغه سپک شوي چا چې دې خاورې ته سپک کتلي
بـلا درانـه دلتـه د بـاد لـه بانـې سـپک کتلـي

د یوسـف مخـو د یـارۍ نـه مـې زړه نـه صبرېـږي
د سر بایللـې جـوارۍ نـه مـې زړه نـه صـبرېږي

دېـوال پنـا او غـرب پنـا لالیـه بیـړه وکـړه
زمـا د سترگـو نـه پنـا لالیـه بـیړه وکـړه

مینـه د نـوره په کچکـول او جـام کـې نـه ځـایېـږي
شـنه لـوپټـه دې په زیـارت او بـام کـې نـه ځلېـږي

بـوخت یـې د بـل خـط پـه لیکلـو ابدالـي ملنگـه
د خـوب تغبیـر بـه مـې سایـي وي جلالـي ملنگـه

گړگوټې ځنې د سپین غر په سپینو واورو ناست یې
په گـڼه ږیره د نـارۍ پـر عـز د خـاورو نـاست یـې

دا پاتـې ژونـد دې هـم زمـا د مـرگ لبـاس پاتـې شي
کـه سره او سپین لـرم هـم تاتـه دې میـراث پاتـې شي

سر مـې هـم سر لـه سـبا اېښـی دی تـوان شـه په تا
که دې په کـار شـوې زمـا وینـې نـو قـربـان شـه پـه تا

# ټپيزه

د ټپـــر تـــاريخ پاڼـــه زړه شـــوه
د ميونـــدو ملالـــه مـــړه شـــوه
يـا مـې غـږ نـه اواري کنـه شـوه
ايوبـــه وينـــه دې ســـړه شـــوه
د مکناټن لښکرې بيا راغلي دينه

# د ژوند تحول

د کړنګ سر نه رالوېدو ته رسېدلي یو اوس
مونږ د ژوند داسې مرحلو ته رسېدلي یو اوس
د دنیا هر کونج کې چې قحط راشي لوږه راشي
اولنی زور یې زما له خوار ملته وځي
له بل طرفه د ملت وکداران داسې څوک دي
انجینران، ډاکټران، سیانس پوهان داسې څوک دي
له چپړاسي نه تر وزیره په رشوت اخته دي
ان له قاضي نه تر مدیره په روشوت اخته دي
وايي چې کار د اهل کارو په لاسونو کې دی
بس د دیندارو او هوښیارو په لاسونو کې دی
اهل هغه دي چې څوک زر لري او زور هم لري
څوک چې د لاسو صفایي په خوله کې اور هم لري
غوږ شئ څو نوي خاطرې درته په مخکې ږدمه
بشپړې ږیرې څو څېرې درته په مخکې ږدمه
د ځینې ځینې ملایانو په مخ پوزې نشته
دوی هم جیبو کې د رشوت شنه لړمان ګرځوي
سزه د بار وهي په بډو کې اوښان ګرځوي

د غـرب د سیپنو قاچاقبرو سره لارې لـړي
د بـلاه غـټو ښکـرورو سره لارې لـړي
په جهانـي سطحه مـو بـل نـوی لقب ګټلـی
د غـلو د لاسه افغانستانـه چـوریستان جـوړ شوی
هـر څوک په خپله رضا درومي یاغي ستان جوړ شوی
خپله پلازمینه کې نه سر نه د چا مال خـوندي دی
په رڼـا ورځ د لـویې لارې مسافـر چـور کېږي
د چـا نه جیب د چـا نه سره د چـا نه سر چور کېږي
د مـاښام غـل یې د سهار په غـله کـې بیا ونیو
حیران په دې یـم چـې چا پرېښودو او چـا ونیو
د امنیت پـړسوب د خېټې په چـاودون واوښتو
په رمـو مـو د لېوانو غـونـدې شپون واوښتو
لـوږه په خدای کـه به صفت او یا شهرت غـواړمه
یا امتیاز غـواړم یـا به مـال دولت غـواړمه
لـکه تـازه ښښتر پـه تبر په ارې پرې کېږي
ددې اولس پـه مظلومـانو مـې کولمـې پرې کېږي
تاسو او خدای چـې په دې ملک باندې واکمن یئ تاسو
ددې اولس پـه درد او غـم څه فـکرمند یـئ تاسو
شاباس تکـړه شـئ د جېبو د ډکـولـو وخت دی
او د دې اولس نه د خـرمنـې د ویستلو وخـت دی
دې زریـن چـانس درسره ټول وس مـو په کار واچوئ

د خپل تربور نه د لمن د پرې کولو وخت دی
دی ناست، په ځمکه وي خو بل ته به کشمیر ښایي
دا پال لیدونکی ماته زما د خوب تعبیر ښایي
د دې ترلیو آینو شاته به څوک ناست وي
خو مخامخ ماته زما پیر او زما تصویر ښایي
توکا مېز اندول یوه نوې تماشه ووگوری
راشي دې ملک کې دا یو بام او دوه هوا وگوری
منو دا ملک زمونږ د ټولو مشترک کور دی
د هزاره، ترکمن، تاجک او د ازبک کور دی
خو یم حیران چې ددې ټولو افغانستان مرکز دی
تاجکستان، ازبکستان،که د ایران مرکز دی
په دفترو کې په پښتو ژبه بندیز پورې دی
په اوربدلو او ویلو یې تعویذ پورې دی
خپل پښتانه مې په دېکو او په ډغرو وهي
وایي قواریته گوم کو ما په برو برو وهي
له بله نه دی له خپله ځانه مې ضرر خوړلی
خپله پښتون د پښتانه د ژبې سر خوړلی
هله پښتون شي چې قدرت لاړ شي څواني لاړه شي
د جومات شیخ شي چې دولت لاړ شي او خاني لاړه شي
په اوړو پښې ږدي بیا له ځان سره بوټان رسوي
د جماعت اولنې صف ته به ځان رسوي

یـو سل او یو پنځوسو تسپو بانـدې بـه ذکـر کـوي
خو په دې ذکـر کـې اکثره د ځان فـکر کـوي
د پیر آغا، د خـان ملک غـونـدې نومـونه لـري
بـلا اوږده تخـلصونـه او لـقبونـه لـري
کـوچـي زرداد ته په لندن کـې محـکمه شروع ده
خـو جنرلاان ثبوت سره ارتـې تـمـې، ګـرځـي
مجبور دي د خپلو پښتنو پـه ژبه لـور کـېږدو
بیا د دې نـورو لـګـکیو پښو تـه اور کـېږدو
په زهـرو تېر شه بـعضې بعضې لمبکو شاعـران
د سندر مـارو جنګمارو د اکـوبکـو شاعـران
د چـا اولس چې له غربته خپلـې لونـې پلـوري
څـوک چـې د خپلې لـوڼې اور ته خپل بچـونې پلوري
زهـر خـواره دي چې د بل زهـرو ته ګوره وایـي
د چـا پړوسان د حـق غوښتلو ته هـم شخړه وایـي
وکیلان خپله د خپل ځـان پـوښتنه نـه شي کـوی
د خپلـې ګټـې او تـوان پـوښتنه نـه شي کـوی
ستا پارلـمـان ته د غـوجلـې نـوم نـهاد ونـه شو
د غـل ډاکـو نـوم مجاهـد ته د جـهاد ونـه شو
دا ړیرور او برېتـور پکـې شکـرې خـوري لا
چا استعفا ورکړه او څـوک پکې ډالـرې خـوري لا
دا دي سبا بـلـه ورځ بـیا انـتخـابات روان دي

ډ بې ضمیره قوم به بیا تش په وعدو غولېږي
سپینه ماښې به مونږ ته بیاکوم یو ښاغلی راوړي
او په بي باوون کې به بیا کوم یو تراشلی راوړي
باروت،کارتوس، پردي زامن دلته په زور رالېږي
اوباما موږه ته دېرش زره لښکر نور رالېږي
یو د پولیسو په ډېروالي امن نه شي راتلی
بل د کارتوسو په ډېروالي امن نه شي راتلی
لوړه په خدای چې هر کور مخ ته پولیس ودروې
د هغې پولیس د پاسه بل پولیس ودروې
څو سپارش وي خپلولي وي او رشوت روان وي
څو د مظلوم په وینو اوښکو تجارت روان وي
څو د مظلوم باکتشې اوښکې د لېمو راوځي
د بغاوت سپېڅلي چیغې مې له خولو راوځي
ته سبا یو قاتل په چوک کې په دار وځړوه
یو شراب خور یو جوارګر په قیمار وځړوه
ته سر عام له یوه غله نه لاس یا پښه پرې کړه
د یو زاني د یوه لوتي ملا ته دوره پرې کړه
بیا ته په ځان پسې باروت اوکارتوس مه ګرځوه
بیا ځان ساتو ته باډیګارډ او پولیس مه ګرځوه
دا امنیت دې درې څلور نسخې په کار واچوي
نر یې ګڼم بیا ورته سره او سپین په لار واچوي

زه د طالب د مدافعې وکالت نه کومه
د کوم تنظیم دکومې جبهې وکالت نه کومه
زما د اولس د تندغرو اخر څه ګناه ده
ددې چاود پوندو او نهرو اخر څه ګناه ده

چې بې ثبوته بې موجبه پرې بوجی اغوندي
ددې راغلو هیڅ تګ لاره او منشور نه دی معلوم
مونږ ته تر اوسه له مادوم او مامور نه دي معلوم
په اوو کالو کې ایله په درې خبرو پوه شوو
چې بشري حقوق تروریزم او افین بندوي
خو په دې افینو کې د تورو پر ځای سپین بندوي
بشري ټولنه دا یوه خبر په زغرده کوي
چې افغانستان کې بشري حقوق تر پښو لاندې دي
خو بشر دوستان صرف د ښځو حقوق مونږ ته غواړي
بشر دوستان دې له بګرامه لږ لیدنه وکړي
چې بشریت پکې په سپیو داړل شوی پروت دی
په انساني کرامت لوبې د حیوان لګیا دي
ستا د قسم وي په انجیل او په فادریانو باندې
بیا د قسم په کلیسا او په سامریانو باندې
چې تا شین ډنډ بمبارولو په دې نه پوهېدې
چې زما د بم لاندې طالب که دهقانان مړه کېږي

یا پکې ښځې بوډاګان او ماشومان مړه کېږي
ټیکنالوجي دې د کیهانه پورې لاس غځوي
د عقل خیګ دې تر آسمانه پورې لاس غځوي
په سل متری کې په ودونو بمبارونه کوي
تا روشدیانو ته دستورو لقبونه ورکړل
زمونږ پر توهین دې د سرو زرو مېډالونه ورکړل
د شابسي ترخنګ دې نوي پلانونه ورکړل
زما عمر او ګلبدین ته وحشت ګر وایې
زما مولا او سپین پټکي ته بنیاد ګر وایې
احمدشاه خان او اکبر خان ته یرغلګر وایې
پرون شهکار وم چې روسان مې له خیبر منع کړل
له سیند او هند له پارس خلیج له سمندر منع کړل
نن وحشت ګر او دهشتګر او ترهګر یادېږم
نن ولې ولې بعضو بعضو ته خطر یادېږم
له شرق او غرب له سیند او هند که له ایران راغلي
زمونږ وژلو ته چې څومره قاتلان راغلي
د اکبر خان د تورې تېرګوزار به بیا یوسي
د کیوناري غوندې ټاپونه به په ملا یوسي
ښاغلیه ستا هم د ړانده مزایل سترګې نشته
توکل په خدای سر دې په ټولو باندې ښه ایښې
په څوځو وارې دې په ما د ټوپک څخه ایښې

ته چې ورځې د چا د کور له خوانه ډزې کوې
ټول ترصد د نرۍ ستنې له سوري نه کوي
چې اخوا دېخوا شوې بیا دې ملګري نه کوي
زر بول اجل به د مقبلو غرو کې وړی ناست یې
له روژې پرته به خپلو غرو کې وږی ناست یې
بیا د دوی د هلیکپټرو د خولو اور بلېږي
دا قضاوت ځان سره ته او ستا ملګري وکړئ
د ګاونډیانو هم په لړه ګوزاره نه کېږي
تقسیموي مو ترمنځ نوره واره نه کېږي
په مطبوعاتو کې یو بل د خطر زنګ غږېږي
په سرنوشت مو بله لوبه د سترنج غږېږي
دا دی هرات د ایران کېدلو په درشل کې پروت دی
افغانستان نور د مغلو په درشل کې پروت دی
روسان هم په موړه د کړي جنګ توان غواړي
بیا نفت او غاز، پټرول، ډیزل د شبرغان غواړي
پاکستان هم زمونږ په حریم باندې راوختلو
په سپین سترګی د ګوېي سیم باندې راوختلو
په دې میراث وطن کې سر او نه خنجر پاتې دی
نه قلمرو لري او نه پکې څوک نر پاتې دی

# غزل

منو چې مونږ په وینو مرو له وینو رنګ اخلو
بغیر له وینو نه زمونږ مړي بدرنګ ښکاري

سفره څودې لنډوم دغومره نور اوږدېږي
یو غر چې پاس کمه بل غر یې په سر دنګ ښکاري

جنګي سردار په دووسی زمونږ موږ شوی نه دی
بیا یې د چا انعامي توره سره ترڅنګ ښکاري.

ښکلو بلا مو له خولې واخلمه لږ صبر کړئ
مخې سرد مو د پتلون وژغني لنګ ښکاري

مونږ نه چې کله سپي غوږ وړی دی نو غوږ نه گورو
ورپسې څغلو که هر څو په منډه چنگ ښکاري

د هنري گوتو دې جار شمه زرگر جانانه
هغه طلا دې په پیتلو کې اوس زنگ ښکاري

تا خو بولی راونه کړې د یوسف په حسن
د مصر ښار دې نور په دې تجارو تنگ ښکاري

د ختنونو ماښامونه د هغو نصیب شه
مونږ ته خو ترخې هم ددې وطن لونگ ښکاري

# قطعه

زما او د مجنون ترمنځه څومره فاصله ده
د زړه او د لړمون ترمنځه څومره فاصله ده

شاید چې دغه دواړه په یو بل کې یو بل وي
د وخت او د پښتون ترمنځه څومره فاصله ده

# نظم

داسې ځوک شته چې د ارې خوله کې غابښونه مات کړي
داسې زلمي غواړم چې لاس کې مات تبرونه مات کړي
او د سپین غر د بورو زرکو ورک بچي پیدا کړي
د منډاير د تجارانو نه پوښتنه وکړي
او د کونړ د پوچو لمنځو ستهکي وژړوي
داسې ځوک شته چې ملالۍ او ناهيدې ته ولاړ شي
پر ډبرين قبر يې د پېغلو مات بنګړي کتار کړي
د ملالۍ ورک شوي قبر ته ګومبت جوړ کړي
د ناهيدې شيندلي قبر ته ځو تيرې کېږدي
دا د روبلو مينان اوس په ډالرو روږد دي
دا په ښوروا په پلاوونو او په لرو روږد دي
دا په ناځاپه موسيقۍ او په سندرو روږد دي
چې د دوی جېب ډک وي ملي ګټه توان څه کوي
دوی پر مذهب او پر ښتون او پر پښتونستان څه کوي
دا په هندي ډارمو بوخت دي دين ايمان څه کوي
داسې ځوک شته د پارلمان وکيل ته ووايي چې
وکيل صاحب ته د اتو کوټو دننه ناست يې

خاورې په سر به د اولس غر ترتا ورسېږي
ته دې پیسته ممیز بادامو سره چای شوپوه
ته خوره سره کړې پرې دپاسه بیا پیپسي شوپوه
شاباش په خپلو کړو ژمنو دې وفا وکړله
سړک دې جوړ برق دې راتېر کړو او روغتون جوړوې
د کلي لوی جومات هم ستا په چنده پوخ جوړ شو
دا خو به پېژني چې کومو خلکو ووټ درکړی
څرمن ترې وباسه له یوې پښې یې راوځړوه
داسې څوک شته چې دوه طبیعته وزیران وپوښتي
دا بیت المال به ستا دوه نیم لکه تنخوا درکړي که
ستا د پاریس، لندن، جرمن ته جهاز ټیکټ درکړي
مونږ له غربته د یو بل په مری وغرېدو
له غربته مو گزگز ژبې له خولو وتلې
ستا دا تنخوا به خود زموږه له هډونو وځي
زما لس کلن بچی جوالی پر اوږو پیلی راون
ستا لس کلن بچی ښوونځي ته پتلون کړی روان
خاورې په سر به زما او ستا ترمنځ واټن کم شي
راځئ پوښتنه د مارشال او مل پاسوال وکړو
دده په سر ولاړ بیراغ ته دوه لاسي سلام دی
ددې بیراغ محراب مېمبر سیوری ثواب گڼمه
خو مونگ پوښتنه د بې برېتو او برېتورو کوو

که ته ساتونکــی او مېړه وې نو دا نور څـه کـوي
کـه پر دوي ساتــې دا وطن ته نـر نـر مـه کېږه بیا
ته د یو جېب دپاسه بل پســې بل جېب جـوړ کـړه
یو جېب کــې اچـوه افغانــی بل کې ډالر گـرځـوه
درېیـم جېب ښه دی د کلدارو ضـرورت پېښېـږي
اوس ته عسکر یـې که صراف که پاسوال او مارشال
داسې څـوک شته چې دراغلیـو نه پوښتنه وکـړي
چــې دوی مونږ ساتي کـه په موږه باندې ځان ساتي
که په مونږ ځان ساتي چې موږه په خپل ځان پوهه شو
کـه موږه ساتي نـو ساتل ته او خدای داســې کیږي
چــې مـوږه ساتي او زمـوږه په انگـړ راخیژي
او تـرجمان دلال د وایــي ځـان ونه ښـوځـوې
ستا د ټوپـک یخه شپېلـۍ زمـا تندی وسوځـي
کټ بستره لـوښــي بـکسونه مــې په څټ واړوي
زمـا آفت زما ،غـرور خـړو موزو لاندې کـړي
افغانــي پرېږده د روســي وجـدان به ومنــي دا
گـوره زلمیه په ځـان ترس وکـړه لږ رحـم وکړه
دې نابلـدو کگلیچونـو کــې به وغـورځېـږې
دا تنگــې شلم دی منځ کـې کش به دې کـې نارې لري
دا وطـن پرښــې لـري گارگــې لـري گارې لـري
زلمیه دلتـه هـلاکـو او چنگېز خان هـلاک شو

دلته مري دګورګین پرې شوې انګریزان هلاک شو
د مغلویانو او سکاویانو نه تانې پاتې دي
همدې ګرزونو کې پرون دلته روسان هلاک شو
په تا هم مور لنګه ده کور به لرې یار به لرې
د ژوند ملګری به لرې منګی ستار به لرې
زلمیه تا پیریان، دېوان، لېوان، بازان پېژني
تا لړمان ماران، پړانګان، زمري، مېږیان پېژني
ولې چې ته د غنمورنګو سره فرق لرې
ته ښایسته د دې بدرنګو سره فرق لرې
دا ځناور او حشرات له په اوده کې بند دي
دوی لا اوس هم د سلمان په اجازه کې بند دي
دلته ډاګین له سلمان له هېره شوې نه ده
خو دا نګین د سلمان د سلمان ګوته غواړي
چې تور دالان کې ختېین کور د توتکو وارنوي
دلته اکثره سر وهلي بر وهلي راځي
او پردغه لار باندې اکثره زر ګټلي راځي
مونږ جنګ نه کوو خو جنګ په مونږ را وتپل شي
د پلار نیکه د شملې ننګ په مونږ را وتپل شي
او ننګ په غله جنګ په وسله اوږده لاسونه غواړي
جنګ پرمخ تللی اقتصاد جهاز او ټانګونه غواړي
مونږ د لوږې اور د سوال په ټوک ډوډۍ وژنو

زمونږ خـوندې د پـردیـو دوکانو مخـې ته
د سوال لمنې غـوړولې تـوک ډوډۍ غـواړي
په دې مـره دیموکراسـۍ کـې مونږ دلوږې مړه شو
او جنګ مـار مچ دی مچ د ورځـې سل بچـي زېږوي
جنګ هـلاکت دی تباهـي ده بـربادي زېـږوي
جنګ جواري ده جـواري په ګټه روږدی مـه شـې
منو چـې تا به وي زمونږ د مـرګ جـواز راوړی
زمونږ وژلـو ته دې ټانـګ راوړی جـهاز راوړی
بې له قاضي او محکمـې مې خپل درشل کـې وژنـې
ته شوې مالک د کـور ما په تور داغـل کـې وژنـې
ددې نه پـورته بل واکـي او زورواکـي خنګه وي
له بل طـرفه پر وطـن د ایډز وبا خپرېـږي
څـو فاحشو له افغانـي نامـوسه پوزه پرېکـړه
د څـو ډالـرو پربدل کـې خپل غـابنونه ایستل
تـو لعنت شه چـې په دې پیسو بیا څه کـوي دوی
له بل طـرفه ښکاره اډې لري دوی لوتي بدمـعاشان
لـه قبره ډک لـکه عـادیان او ثمودي بدمـعاشان
غـرب کې قـانون دی د هلکـو وادول هلـک ته
نو حیران په دې عقل په دې ساینس او په دې پرمختګ
چـې د هلکـو ودول هلـک ته خنګه کیـږي
چې دوه منفي لینه تـولـد او تولید کړی شـي که نه

شراب او ایډز قتل او قتال ته څوک لمنې وهي
چا د پوډورو ماشین جوړ کړو څوک یې ستنې وهي
مونږ خو لا ستنه کې سورې قدرې له هم نشو اچوی
بیا له افینو پوډر او هیروین څوک جوړوي
له بل طرفه دا غټ خېټي ملکان غوړمالان
پر خلاتونو باندې روږدي دا شیخان غوړمالان
چې کورته ورشې نو سوپر لري ټکټرې لري
په جرېبو جرېبو ځمکې لري غرې لري
چکی، صابون لوټه غوړو پسې به سر ماتوي
چارک لوبیا د سوال اوړو پسې به سر ماتوي
د مؤسسو او اینجیوګانو به څه نه وایمه
بس دومره وایم چې خیرات زمونږ په نوم راوړي
پینځې ترې راتاو کړي د خپل کور خیرات په خپله وخوري
ته واه کرزی لالت د کومې سوړې خوله بنده کړي
له بل طرفه د شاعر په دواړو سترګو ړوند شي
ګوتې یې ماتې شه په ژبه باندې هم ګونګی شه
او د جانان دا شین مانګی دې ستا په سر مات شي
دا مازدیګر او دا ګودر دې ستا په وینو سور شي
ته د اولس ساندې ځړیکې شر او شور نه اورې
په غوږو کوڼ شې چې زویرګی د زخمي ورور نه اورې
د چا په کور سېلاب ختلی په چا بم پرېوتی

ته په دربار کې په کباب او پلاوونو ډک شوې
او د اولس د تنداغور خوله له خاورو ډکه
داسې صحافت او ژورنالیزم دې ستا سر وخوري
په گفتار نه کیږي مغلوب فولادې عزم غواړي
گوره اوربل د شرینې فرهادي عزم غواړي
مونږ سره مه راځه خپل خان ته سرنوشت ونیسه
د خوشحال نوم او نښان ته سرنوشت ونیسه
خلک دې نه منې را پاځه خپل هویت ثابت کړه
د پنجاب په تور هودهود هغه خد ثابت کړه
دا په شړشمو چې غوړ گرځې کوزانې ښوی سري
دا سایل خېل او اجمل خېل او دورانې ښوي سري
پاځه لالا ټولو قومونو ازادي واخیسته
ته خبر نه یې د برلین دېوال یې ونړاوه
او اسرآیلو فلسطین په رسمیت وپېژندل
اوزبکستان، تاجکستان، ترکمنستان ازاد شول
د اتحاد جماهیر نه اوس روسیه جوړه ده
له مقبوضه کشمیر نه به هم ازاد کشمیر جوړ شي
چین به له هند سره د خپلې ملا په تیر جوړ شې
ستا په سینه باندې درگردي ازغن تار تېرېږي
گنډي گرېوان ستنه یې لاس کې خو له تار تېرېږي
ته د پنجاب د غلامۍ نوي سوچونه کوه

ته د ګلاټې په مړوند باندې خوبونه کوه

له بل طرفه یو بل څوان چاړه په لاس ولاړ دی

پوښتنه نه شته خو ایله له تنه سر پرې کوي

که کله زه او زما رنګي خلک پېښ شوه دلته

زما د سر د پرې کوو فتوا یې هم جېب کې وه

له مرګه مخکې یو وصیت کومه اعلان کوم

وصیت کول ګوره د مړي په ژوندي حق دی

عزیز تربور لرم پښتون یمه پېغور راکوي

د کلي خلک مې په سپینه جامه تور راکوي

سر رانه غوڅ کړه خو یوه خبره خدای په خاطر

د ولو منځ کې مې د کفر ټاپه مه لګوه

# سپین شعر

زمونږ تـر څنګه د خـان خېلو کلیـه
منو چـې تاسو فطـرتـي خانان یـئ
خـو مونږ هـم په پوزه باندې مچ نه پرېـږدو
په مونږ به دا خـرمستـي نه خـرڅـوئ
منو چـې تـاسـې مـعـزز حـلـک یـئ
هـر څـه چـې وغـواړئ هـم هغه کـیږي
مونږ پـیداوار یـو ددې خـړې خـاورې
زمونږ کـفـن به هـم ددې خـاورې وي
ستاسو بچـي د مـحـلـونـو بچـي
بس هـره شپـه د چـراغـان شپه وي
زمونږ بچـي لا څپلـۍ نه پېژني
د شپـې د سر لاندې څنـګل مـاتـه کړي

زمونږ او ستاسو ترمنځ فرق نشته
بس دومره فرق دی لکه ځمکه آسمان
دا ارتفاع مو مونږ په سر سترګو منو
بې انصافي مې شاید نه وي کړې
زمونږ د خاورو کوټانځې چیرته
چیرته د ستاسو برجاورې قلا
زمونږ د خاورو بوځلي کورونه
ستاسو برجونه تر آسمانه کاږي
ولې به دا ارتفاع نه ورکوم
ولې به داسې فتوا نه ورکوم
تاسو تیارې د بې علمی لرې کړې
زمونږ ترمخه یوه پرده جوړه کړي
موږه راګیر کړي په یو تور ناورین کې
راتلونکې شي داسې منصوبه جوړه کړي
چې د مزدور بچی مزدور پاتې شي
داسې یوه لویه سلسله جوړه کړي
درنه رڼا په سترګو ونه ویني
د تیارو داسې پروسه جوړه کړي
چې د ماښام بچی ماښام الوځي
مونږ شاپېرکو ته پنجره جوړه کړي
ستاسو لاسو ته قلمونه جوړ دي

مونږ تـه کلنګ مونږ تـه بېلچه جوړه کړي
د شهـزادګانـو شهـزداګان بچـي وي
زمونږ جـامې زمونږ مـخونه خیرن
تـاسو پخـپله ستا هـر څـه معـزز
ستاسو خـپلوان ستا مېلمانـه معـزز
سـتاسو کـوتـرې او بـازان معـزز
سـتاسو باخـې سـتاسو قضیان معـزز
زمـوږه خـویندې زمونږ لونه وینځـې
د وینځـو لـونه غـلامـان زېږوي
زه بـه مـزدور یـم زمـا پلار مزدور وه
زمـا بچـی به هـم مـزدور پاتې وي
مـا تـه زمـا وړکـتوب ښه را یـاد شـي
چـې مـا به ګـډې او چلـی پېولـې
اوس مـې هـم سترګـو کـې یو خـوب غړېږي
د سـتږي سـتږي ژونـد سـتومـانه کیسه
مـا به د ټـول کلـي پاده پېولـه
مـاښـام به ډانـګ په لاس هـر کـور ته تلمه
زه یـو مـاښـام کـوځـه کـې سپي وخـوړم
بیا نـاڅـاپـي مـې یـو اواز تـر غـوږ شه
نـو خـان ویـل چـې سپـی په کانـو ولـې ولې
چـې ته یـې په کانـو ولـې دوی به دې خـوري

په ګوډه ګوډه پښه بیا کور ته لاړم
مور ته مې ویل چې زه سپي وخوړم
ویل خیر دی بچیه دا د خانانو سپی دی
د هغوی سپي د معززو سپي دي
په ما یې لاس د شفقت راښکلو
د لوپټې خیرنه پیڅکه یې تاو کړه
زما خیرن مخ یې له خاورو پاک کړو
ویل بچیه نوره پاده مه پیایه
دواړو سترګو نه یې اوښکې راغلې
جوړې زما په حال غمجنه شوله
همداسې تلې تلې ترګرېوانه پورې
مایې د شونډو سپین پاړونه کتل
پکې د وینو غوټې جوړې شولې
بیا یې دواړه لاسه ګرېوانه ته واچول
ما نه لا هغه ښیرې هیرې نه دي
ما نه لا هغه ښیرې هیرې نه دي

خوست

# غزل

د نارنج ګل چې په حمل کې غزونې وکړې
خوشبو واړه چپریال کې غزونې وکړې

آه بېګانې پرخې ته پروت ایله په ډډه شو اوس
تنک تور بورا په نارنج ګل کې غزونې وکړې

مست پسرلی چې د سپین غر لمن کې وغزېدو
لېونې خیال مې په غزل کې غزونې وکړې

د چا یتمې هیلې اوس په زړه راوورېدې
خو ببر سرو په ځنګل کې غزونې وکړې

د چا یتیم مال یې خوړلی چې یې نه هضمېږي
لکه لېوه یې په هر پل کې غزونې وکړې

خدای خبر څه ارمان یې وه په زړه د هغه زلمي
لت پت په وینو یې په اجل کې غزونې وکړې

ما ویل ټوپک به مسلکي زلمو ته ورکړای شي خو
څو بې مسلکو په مورچل کې عزونې وکړې

خلکو مریخ مطالعه کړی دی په بیرته راغلل
زمونږ زلمیو ایله بخمل کې ...ې وکړې

خوست

## توپیر

مونږه دکلي او باندو لیوني
مونږه د غرو او سردرو لېوني
دغه د ښار او د ښاریو مینان
دغه د ډېرو خوشخالو مینان
دوی ته په ښو کې مینان رغړي
دوی په سرو شونډو هر وخت ښې ایښې دي
دوی ته مباح دي د شرابو اوبه
دوی ته هر څه په نیمه بیه رسیږي
چې لمر زمونږه د ښو تالي وسیځي
په منډه منډه سرپانه ته لاړ شو
د پچاکې د دالان سیورې لاندې

# د یادونو باڅري

راته مخکې مخکې کېږي
د ماضي په نیلي سپور شم
ما له خانه سره یوسي
په نڅا او په ګډا شي
په موسکا او په خندا شي
څو واړه واړه چاچکي
په چک چکو رانه تاو شي
یو محسن مې رانږدې شي
له ګرېوانه مې کېکاږي
ښه پوهېږم په خپل ځان چې
دا خپل ځان رانه ورکېږي
څو ګاګر ګاګر سرونه
د همزلو چاود مخونه

د غربت بلا څټلي
څو کرپونکي قمیصونه
بیا زه هم په خپل لستوڼي
پوزه کش کړمه په منډه
بیا موره شو دوه ډلې
بنګړي مات هلته شروغ کړو
ناڅاپي د سترګو رپ کې
مازدیګر په ژړیدو شي
د بزګې څوکې غېږ کې
بویه لمر په ژړیدو شي
جوړې دی په چا مین دی
په خپل سر په ژړیدو شي
چا ته حال ویلی نه شي
مرور په ژړیدو شي
لمر سلګۍ وهي تمام شي
تیاره غونې شان ماښام شي
بیا زمونږ د کلي نجونې
یو او بل نه مخکې کېږي
چینارونو کې چرچڼې
د پولو غوندې شرنګېږي
ناڅاپي مې یو اواز بیا

په غوړو کې انګازه شي
داسې نوم راته څوک اخلي
خان جانیه خان جانیه
په قرار قرار بیا ورشم
د نارنجو یو زیلی ته
نو هغه بیا رانیږدې شي
سره غمبوري رانه شومي
د بوړلو کمڅو واګي
مې په ګوتو کې کیکاږي
وایي څه چې څو مابنام دی
یو منګی راسره واخله
آه دا څنګه وړکتوب وه
آه دا څنګه وړکتوب وه

# غزل

ما ويل ښكارېږي ټول جهان اوده دی
يو زه نه يم هر افغان اوده دی

نه نه غلط شومه ټول خلک ويښ دي
بس که اوده دی يو افغان اوده دی

ځي او راځي پرې د هنر قافلې
په سمه لار کې د کاروان اوده دی

نورو خپل کسب او کمال زده کړو
د پښتون روح او هم وجدان اوده دی

خاورې به وخه کم توبه له کبره
دا مې په سر باندې اسمان اوده دی

# نظم

د ژوند بېړۍ مې هلته ډوبه شوه چې نه ډوبېده
د بخت ډېوه مې رانسکوره شوله نه مې لیده

شو راته خپل پښتون قاتل په مرۍ وغرېده
لکه قابل چې د هابېل په مرۍ وغرېده

لکه یوسف ته وا د خپل حسن په لمر کې سوځم
لکه یعقوب د گرمو اوښکو په مجمر کې سوځم

یوسف هم زه یم یعقوب او یهوده هم زه یم
هغه هم زه وم دا هم زه یم او دا هم زه یم

بي بي اسـيا هـم د فرعـون کـور کـې ايمـان لـرلـو
برعکـس نـوح هـم نامنـونکـې زوی قنـغان لـرلـ

کـه ابـولهـب او ابـو جهـل لـه الهـاد وانـوښت
امیـر حمـزه او ابـن ولـيد هـم لـه جـهاد وانوښت

افسـوس پـه خـال د ابـو طـالب چـې بيعـت ونـکړ
د ځـنکـدن پـه خـولـو لونـد يـې شـهـادت ونـکړ

د مـست فرعـون او د کـل زم باغـي څپـې حيـرانـې
مـوسـې حيـران دی د ده دولـس قبلـې حيـرانـې

# غزل

لاړه رسوا شوه کور او کلي قام ته ورسېده
د باد په شونډو د هر چا الهام ته ورسېده

ستا د اوربل په جګړو سترې شوم خو منع نه شوم
آه د انګړ خبره لاړه بام ته ورسېده

مونږه چې ځومره پټوله پټه کړې مو وه
هغه خبره د جومات امام ته ورسېده

د یوې بلې ضرورت دی چې پرې بیا را ټول شو
ملالې ستا هغه ټپه انجام ته ورسېده

مونږ د سهار خبره هر وخت په ماښام کړېده
د یوه ماښام نه بل ماښام ماښام ته ورسېده

خانه چې ما کړو لو او لور هغه زما په اوږو
هغه بوجۍ ستا د غلې ګودام ته ورسېده

هغه بولۍ د تاجرانو دومره تېزه وه چې
یو بوډۍ هم د یوسف لیلام ته ورسېده

ټورمه سده

# ازاد نظم

اې یوویشتمې صدۍ سترې مه شې
درته پښتو کې ښه راغلاست وایمه
لستونې باسمه ګډېږم درته
درته اتڼ کوم سندره کوم
په خړ څادر مې درته لار جارو کړه
په پاپلې مازوم قدم راځه
تاته مې دنګې دروازې جوړې کړې
چنار چنار ځوانې دې ماته مه شه
ستا استقبال پذیرایۍ لپاره
د زړه په سر مې قدمونه کېږده
دا مو سپین ږیري پښتانه مشران دي
دا یې په سر باندې څادر اچوو
درته په سر باندې څادر اچوي
مبارکي د شین څادر درکوي
دا مو ځوانان ستا حفاظت ته ولاړ
ټول ماشومان قطار قطار ولاړ دي
درته یې ډالۍ کړه د سنځلې ګلان
درته را ټیټ شولو شمشاد څه وایي

جوړ ښکلوي دې یوویشتمې صدی
د سپین غر څوکو ته ښتر ختلي
ملي اتڼ ملي سندره کوي
ولې ساه ساه پښه نیولې شولې
جوړ په راتلو باندې پښیمانه شولې
څنګه دمخه د سورخي والوته
د تندي کرښې د خولې خولې شوې
د چاودو پوندو منزلونه ستايې
مه یې پوښته دا ډېره اوږده کیسه ده
دلته یو څو کلي کورنه جوړ وو
نه هغه کلي نه کورونه شته دي
هغه هجري په هدیرو بدلې
دلته د وینو تجارت وشولو
دلته د وینو تجاران اوسېدل
دلته د وینو تجارت وشولو
چا په پاوکم چا پاو باندې ویلې
دلته تنو باندې سرونه خرڅ شول
په هر یو سر وه خپل قیمت لیکلی
د چا سرونه د وړیو په تول
د چا سرونه په ډالرو حرڅ شول
دلته په لوېشت لوېشت ځمکه اوربل شوی

دلته مرگونی شان محشر تېر شولو
دلته د ډېرو د حیا لمنې
په سر راووښتې لا چپ پاتې دي
دلته په یو بس کې اتلس کسان
د دړامارو په گولو سوري شول
دلته د وخت وکدار دا هم وڼه ویل
د انسانان دي که چرگان مړه شوي
دلته د هر چا مرگ ماشه کې پروت دی
دلته گودام گودام باروت پراته دي
دلته څو څلې کربلاه نوې شوه
اوس هم بندیز دی د حسن په کلي
دلته اوس هم آدم خواره لاشته دي
د افغانانو وینې غوښې شومې
دلته کوه قاف کې جوج ماجوج بند دي
ټول انسانیت به یو کپله کړي که
دلته کې سور ښامار اندې اندې شو
د بعضو هډوکي ککرۍ شته دي
دا مې د تېر جبران تکرار کولو
دا د ماضي خروار خروار چونگي وه
ولې د مخه د خالونه توی شول
ولې خولې دې په رومال وچوې

ګوره چې خپله فیصله وانخلې
زمونږ په دې بدحالۍ رحم وکړه
د انسانیت او بشریت په نامه
نوې صدۍ درنه انصاف غواړمه
ستا د ګونځې تندي کرښې وایي
جوړې انکار کوي د شونډو په سر
ولې دا مونږ څه انسانان نه یو
ولې د ځمکې په مخ حق نلرو
ولې تعصب کوې د ژبې په سر
ولې دا مونږ ترکمن اوزبک نلرو
ولې ګونګۍ شولې جواب راکړه
ولې دا مونږ دلیل منطق نلرو
ولې مونږ حق په حق کې نه بولې ته
ولې دا مونږ څه شناخت نلرو
ولې مو څوکه د قلم ماتوې
ولې مونږ خپل ملت دولت نلرو

کورمه سده

# غزل

چې سر کله راټیټ کړم د ګرېوان په محکمه کې
په خپل حکم محکوم شم د وجدان په محکمه کې

په وینو د انسان چې د انسان منګولې سرې وي
بیا څه فیصله وشوه د انسان په محکمه کې

عابس شو اعتماد په زورورو د کمزورو
مونږ ولیدو انصاف ددې جهان په محکمه کې

ولچک او زولنې نشته که مټو کې دې زور وي
د بل زندان کې وژنې خپل قیدیان په محکمه کې

در ګردي فرمانونه یو د بل پسې چلېږي
یو هم عملي نشو د افغان په محکمه کې

د سور دوزخ لـه تلـه مې راچیغې کـه یې اورې
ولاړ یمه د حشر د میدان په محکمه کې

خوست

# غزل

لکه چنار چې د ډېون له ډډې اور اخلي
داسې مې زړه هم د لړمون له ډډې اور اخلي

په اعتبارکې د اشنا له ډډې داسې وسوم
لکه پښتون چې د پښتون له ډډې اور اخلي

خنګه چې وژول خادر پټکي پښتونه درنه
وینم پرتوګ به د پتلون له ډډې اور اخلي

تعجب دې خنګه د علاج لاندې لا وپړسېدو
ښکاري چې زخم د تبون له ډډې اور اخلي

چې د لېوانو ګردله کې هم اوده پاتې وي
دغه رمه به خود د شپون له ډډې اور اخلي

مونږه کانه ړاند د وخت په غوښتنه اوس پوهه شو
د نن خبره له پرون له ډډې اور اخلي

که چیرته یې ولیدو اشنا سره اشنا مړوند کې
تول رقیبان به د زنګون له ډډې اور اخلي

# نظم

دلـته خاطـر د هغـه چـا کېـږي چــې ډار تـرې کـېږي
باطـن يــې ډک وي لــه فساده ظاهر اعتبار پـرې کېـږي

دلتـه کـه ژونـد غــواړې دوه مخـې ځلـور مخـې اوسـه
بيا چې پـه کـومه ځمکـه بـنگ کـرې چينار پرې کـېږي

څه بـه يـې مـزدور څـه يـې مـزدوري وي د خـولو او وينـو
نـه پــرې ډوډۍ، نــه پــرې اينګـولــي، نـه نـسوار کـېږي

زردې زرداړو تــه نــصيب شــي مـونږ نـه غــواړو خــو
بس دومـره غــواړو چـې تـر ګـور کـفـنـه کارپـرې کيـږي

د غــره کمـر نـه چــې د غـره ونــې پـه کاڼــو لګــې
خير دی چـې کـوم بوټــی مېـوه نيسي- ګوزار پرې کېږي

د دې اولـــس د زوروړو ســـره خـــدای پوهـــه شـــه
چـــې زمـونږه حــق خـوري زمـونږه بـه څـه لارپـرې کېـږي

کورمه نسده

# نظم

دا زلمي بیا د چا په کلي راغلل
کفن په سر باندې تړلي راغلل
خیژي د کوم مورچل په سر باندې
ګولۍ به اخوري په ټټر باندې
د سر لښکره زلمیه ودرېږه لږ
زه د یو دوه خبرو ځواب غواړمه
د چا ماښام د چا تاوده انغري
د چا د ناوې اوربل مه رنګوي
په منډه منډه ساه نیولي راغلل
کفن په سر باندې تړلي راغلل
دا د نازو او زرغونې کور دی
د احمدشاه او د میرویس ټاټوبی
زه ملالۍ درته پرونی نیسم
دا د خړپوځو کلي مه ورانوئ
لږ رحم وکړئ پخپل سر باندې
ګولۍ به وخورې په ټټر باندې
ځوانه په ټوپک باندې دې ځوک وویشتو
د چا د خیال مانۍ دې ولوټلې
بیا درته کومې مور ښېرې کړېدي
د چا ارمان مو د پښو لاندې کړلو
زخمي زخمي ګرېوان شلېدلي راغلل
کفن په سرباندې تړلي راغلل

کورمه سده

# غزل

له ډېره وخته مې غورځونو کې يو زنګ شرنګېږي
بس زه پوهېږم د خطر حال چاته نه وايمه

لکه يعقوب چې په يوسف پسې نظر بايلو
په تېپو ړوند يم د نظر حال چاته نه وايمه

پوهه نه يم ولې تاتره راته نن ټيټه ښکاري
خړ اپريدی شوم د خيبر حال چاته نه وايمه

هر يو پېغور مې د تندي په هره کربنه مهر
مات شو څو ځلې خو د سر حال چاته نه وايمه

هر څه به ووايم تورخمه خو يوه خبره
نه وايم نه وايم د درد حال چاته نه وايمه

هغه پولۍ يم چې د بټ په شګو کې سپينه واوري
د ګرمو شګو د بستر حال چاته نه وايمه

هغه پولۍ يم چې له درده يې زړه ترک وچوي
زړګيه نور دي د پرهار حال چاته نه وايمه

هغه چيناريم چې د لاندې شنې اوبه او ګودر
دننه سوی د ځيګر جال چاته نه وايمه

کورمه سده

# غزل

بس خو گرمه وینه وه سره شوله
مره شوله د بخت ډېوه مې مره شوله

نور څه افتخار را په نصیب نه شو
یوه د بابا توره وه زړه شوله

دومره سالم عقل خدای راکړی وه
بوټ مې جوړاوه رانه پڼه شوله

لاره مې دواړه طرف بنده کړه
پل مې جوړاوه رانه موړه شوله

یو توصیف د ښکلو دومره ډېر شو چې
سمه د پښتاوي اکاړه شوله

خپله کړي غوبل زلفې غوبل غوبل
ما چې ورته وویل نوکانه شوله

کورمه سده

# غزل

د محـــبت پـــه زنـــه تـــور خـــال بېلـــتانه کـــرلي
د ورانـــوو او جـــوړاوو قـيمـــت پـــه خـــپله اخلـــي

د نفرتونـــو دېوالـــونه خـــو همـــدوي جـــوړ کـــړي
مـونږ چـې تـرې ځـان راتېـولـو نـو زور پـرې ځلـه اخلي

يـو خـــوا نـــارې کـــړې د انصـــاف او مســـاوي حقـــونو
بـــل خـــوا د چـــا د لاس انـــصاف د چـــانه تلـــه اخلـــي

هغـــوي پـــه تـــبر ځـــان لـــه خپلـــې پښـــې پخپلـــه وهـــي
چـــې جـــل وهلـــو تـــه اوبـــه څـــوک لـــه اجـــله اخلـــي

خلـــک د بـــل ځـــټ غـوځـــوي خـــو چـــاړه خپلـــه لـــري
پښتـــون د ورور ســـر غـوځـــوي چـــاړه لـــه بـــله اخلي

د ځان په وير نـاست د ځان غوښې مـې په ځان وخوړې
څـوک رانـه نـوم د فـرهاد وړي څـوک شرين گلـه اخلـي

ږغونږ پېغلــې پـه آینــو کــې ځــان تـه نـه ګــوري څـه
نــه څـــه الـــهام ددې محـــيط او چاپېريالـــه اخلـــي

د مغـــرب ګـــرمو هـواګـــانو تـــرې پړونـــې يـــوړل
تـــاريخ جـــبران شـــو د ملالـــې نـــوم مغولــه اخلـــي

هغـــه د کلـــي پـــيڅه والـــې چرګـــې ډېـرې ښـــې دي
ګرانــې بـه وي خـو حـوري د خپـل غـولي خزلـه اخلـي

منــو د ښــار چرګـــې بـه سپينـــې وي رنګينـــې بـه وي
چـې څـوک يې اخلـي نـو پـه ښارکـې بـه ګـوډله اخلـي

کورمه سده

# غزل

چې جګېدلو جګېدلو سر ته ورسېدو
د ارمان څلي اخري منظرته ورسېدو

هغه طوفان چې را الوتی وه بس دا یې وکړل
لاړو ګرېوان مې د لمنې سر ته ورسېدو

الله دې خیر کړي بُت شکن درته راورسېدل
پېښور لاړو د غویانو ښکرته ورسېدو

د مخ کشمیر باندې دې هلته پابندي لګوه
لاس مې که زلفو کې هندې لښکرته ورسېدو

د وروځو منځ کې د خالي محراب ته لاره ګورم
د زړه امام مې که یو ځل ممبرته ورسېدو

غوښه چې سپکه له قصابه شي ګیله له چانه
پښتنو خپل اوردې اوس خپل ټغر ته ورسېدو

زه هم زلمی یم زما زړه هم مستي غواړي
لاس مې څو ځلې د اورې څادر ته ورسېدو

# نظم

لا خو پرتم د زمانې چا رانه وړی نه دی
لا د وطنه په شگلینه ځمکه ساه اخلم
لا مې سکروټې د احساس لمبې کوي لگیا دي
لا سپرمغیی لمنې سوزي ځان د ساته له ما
چې د غلیم نه د خوړلي مال تپوس ونکړم
بیا به لمسی د نازو نه یمه مغل به یمه
که مې پربکړی لاس په ولو کې رانه وړ ترینه
بیا مې راوتړه په شنه لوپټه پښې او ځنې
دوی هتلوسه خپل وس وکړلو خو بیل یې نکړو
لاخو قوت د پښتانه شونډه په شونډه پروت دی
چې د اوده احساس راویښ او غونی غونی نکړم
بیا خو شاعر نه یم ملگرو مداري به یمه
چې په هدف مې ستا شینکی بیراغ ونه رپاوو
بیا مې کتاب د شاعری په اباسین لاهو کړه
که د همت مناره چا رانه په زور لاندې کړه
لکه هندو مې د وطن ترخو کې وسوځوئ
که مې ټټر د ستا د مخ په لمبو سوی نه وای
بیا پتنگ نه یم دې شمعې ته گونگټ راغلی
که مابنامونو ته مې زېری د سهار ورنکړو
بیا مې حلال کړئ د شفق په سره اوږده لمن کې
که مې خولې او وینې گډې په دې ننگ توی نه شوې
بیا مې لقب د بابا حق دی سترگې مه پټوئ

کورمه سده

# غزل

ستـرگــې د خـفـگــان ســره تـړلــې دی
اوښکــې د گــرېوان ســره تـړلــې دي

بــس د یــو نظــر د کـــتو تــږي دي
للمـــې د بـــاران ســـره تـړلــې دي

خــود چــې یــو میــن پــه لاره نــه پرېــږدي
سپـــي او رقـــیبان ســـره تـړلـــي دي

تــور هــندي لښکــر خــور د کشمــیر پــرمخ
زلفـــې او مـــارانِ ســـره تـړلـــي دي

مـخ او شـین تنکـی خـال د آبـرو منځ کې
لعـــل او بـدخـــشان ســـره تړلـــي دي

دا یــو ه ټپــه ده د ورښمـــین پـــه ســر
نـــورې د اوخـــان ســـره تړلـــي دي

امـــن او افـــغان او کابـــل جـــان واړه
دا مـــې د ارمـــان ســـره تړلـــي دي

وایـــي ملاجـــان خـــو زه یـــې نـــه مـــنم
ســـر او زړه نـــادان ســـره تړلـــي دي

دا د پښتـــون عـــهد دی پـــه شـا نـــه ځـــي
دا ســـر او رســـپان ســـره تـــړلي دي

نـــه ببلـــېږي اوبـــه پـــه ډانـــګ وهـــلو نـــې
غـولـــــی او دالان ســـره تړلـــي دي

کورمه سده

# غزل

ژوندون به مې ترخو د انتظار غېږه کې مري
سور لعل د بدخشان نور د ښامار غېږه کې مري

بلبل ګډه ترلې وه بورا له غمه مړ و
خبر شوم نارنج ګل د ننګرهار غېږه کې مري

وړې وړې سلګۍ وړې وړې لتې یې وهلې
بچې د ښاورګانو د چینار غېږه کې مري

د خپلې بې وسۍ به درته څه وایم ملګرو
سلګۍ سلګۍ جانان مې د رویبار غېږه کې مري

هغه ته په تندي د شهادت مهر په کار دی
چې څوک د خپل یار او د خپل یار غېږه کې مري

پېښور

# لغړه شمعه

پــه زرزاري قــميص د شمــعې سرې لــمبې ښويېــږي
خندېږي هم پــه مــخ يــې اوښکــې پښتنې ښويېــږي

ژړيــږي هــم يــې خپــل جــمال تــه تيلــي ورتــه کړلــو
گـــوره روانـــه ده پـــه لـــوري دپـــيسې ښـويېـــږي

د ملالـــې پېغـــوره نـــور بـــه ورتـــه څـــه ووايـــم
د پښتـــنو پېغلـــو د سرنـــه لوپـــټې ښـويېـــږي

څـه به پـه سـرکـړي  دروند پړونــې د برقـې پـه شـمول
دې غـريبانـــو نـــه لستونـــې هـــم پېڅـــې ښويېـــږي

شاباش تکړه شې د وخت هره تقاضا پوره کړې
ګورې سبا به مو د مخ نه آینه ښویږي

څه بې حیا طوفان راوالوتو لمنې ربې
که څوک پوهېږي نو د غاړې نه جامې ښویږي

اوس له بارانه سرپنا لپاره چیرته لاړ شو
هر خوا چې ګورم د بلیو نه ناوې ښویږي

ضمیره ولې مې سوکنډې په چا مې سرغوڅوې
په هر وېښته مې همدا اوس تیرې آرې ښویږي

هر چا چې وکړل خو تمام شول د پښتون په نامه
په دې باران کې به د ډېرونه پڼې ښویږي

آه د خوشال بابا خبر به درته نه کومه
پوزې مو غوڅې شوې د سرنه مو شملې ښویږي

کورمه سده

# نظم

ملگرو پام تر هـر يـو ستونـي پـورې لاس رسـېږي
دومـــره اوږده دي د اجـــل د فـريشـــتو لاسـونـــه

د نـورو څـه گيــله کـوم نـور مــلامته مـه کـړې
پخـــپله پـرې کـړل پښتـــنو د پښتـــنو لاسـونــه

نور مـې څـه وس نشـته چـې هـر دېـوال تـه وژاړمـه
بـس ورتــه کېږدمــه پـه تشـو پـه کلـمو لاســونه

تېـره غـاښــونه بـه يــې وچـيچــي پخپلــو غاښــو
خـــپله بـه غــوڅ کــړي د اوږدو اوږدو ارو لاســونه

نه فلک ماتېږي نـه زمـا زمـا سنـدانې سر مـات شـو
نـه مـې خلاصـېږي لـه گـرېوانـه د پـردو لاسـونــه

نــه د ســـهار بـــلال راوخـــتو اذان يـــې وکـــړو
نـه رانـه لنـډ شـول ددې تـورو تـورو شـپو لاسـونه

بشــر دوســتانو راشــئ وگـورئ پارچــه پارچـه دي
راتـــه پـراتـــه دي د وړو وړو بـچــــو لاسـونـــــه

کورمه سده

# غزل

له ډېره کبره او له نازه را کړه وه په ملا
لکه رسا چې د ډنډر سره ګلاب کوږ شي

د زلفو خط د مخ تاپونه داسې کوږ تاو وو
لکه زمونږ د کلي خوا ته چې سېلاب کوږ شي

د زلفو ولونه په یو بل داسې کاږه واږه وو
لکه زاهد نه د اوږدو تسپو تناب کوږ شي

د ترخ بتوه یې له اوږې راښویېدلې داسې
لکه د آس د یو طرف نه چې رکاب کوږ شي

سور لکی دار خال یې د ورخو منځ کې داسې پروت و
لکه ماهي چې په اوبو کې د دریاب کوږ شي

خدای خبر ولې هلته ناسته وي چې ماته ګوري
زه چې ور وګورم تندي کې یې محراب کوږ شي

چــې زړه راغــېږ کــړمه نــو خولــه راتــه وړه ښــکاره شي
خدای خـبر ولـې مې په خوله کې سوال خـواب کـوړ شي

خـدای خــبر ولــې د یــو نــوم په اخیســتو داســې شــي
لــکه چــې نــوم د پښــتون واخـلمه پنـجاب کــوړ شــي

لــکه زه چــې پــه مــلا کــوړ وم دی هـمداســې غــواړم
لــکه د چــا پــه زړه میلــه کــې اســباب کــوړ شــي

زه خــو لــه غمــه پــه مــلا کــوړ وم دی لــه نــازه داســې
لــکه په ستهــېج چــې لــه غــزل سره (تــراب) کــوړ شي

کورمه سده

# نظم

ربه د کومې گناه عذر پیش کړو
موږه په کومه توبه پښې کېښښوې
موږه د کوم نعمت غفران ونکړو
موږه د چا سره اخوت کړی دی
موږه په خور او لور پیسې واخیستې
موږه د سود په پیسو خېتې وکړې
موږه د وینو لښتې وبهول
دا وینې موږه د خپل ورور توی کړې
موږه د کوم وس ازمایښت ونکړو
موږه د چا په مری پښې کینښوې
موږه د چا په بچو رحم کړی
موږه د کومې گناه ډډه کړې
موږه د چا په غم ژړلي نه دي
موږه په اخلاص چاته خندلي نه دي
تل د مطلب لپاره لاس اوږدوو
تل په لستوڼي کې اخلاص اوږدوو
مونږه په دې پاکه او ښېرازه ځمکه
تل د باردو کروندې کرېدي
مونږ په کعبه کې په قسم لاس کېښود
داسې مو وویل چې موږه ژوندي یو
څو د بارودو دا ډېرۍ پرتې دي

# غزل

داسې زه په بې باوره ژوندون غل یم
لکه غل وي پخپل ژوند بې اطمنانه

کله کله د اطلس په بستر پروت یم
لکه پروت یم لکه کاڼی د بیابانه

کله کله د یو نر پښتون تېر شم
کله کړم لکه مغل ګوزار له شانه

کله کله سمندر غوندې مفلس شم
کله شم لکه سور لعل د بدخشانه

کله کله رانه دومره لوړه وشي
چې رانیسم به آسمان له دې ګرېوانه

کله لپې لپې خاورې لاس کې واخلم
د بخشش لپاره یې نولمه په ځانه

لکه لوټ شو منډایر د قوم په منځ کې
داسې لوټ شومه (تېراب) له هرې خوانه

کورمه سده

# نظم

د زړه تنگون دومره تنگ کړی یم چې
چې تنگ شي تنگ شي نو به جنگ واوړي
د خدنگ ختې مې پرمخ وتپې
د دې خبرې قابل نه یمه خو
زمونږ په یوه خبره حیات تبا شي
لکه تبا چې شو او وامو وربدل
مونږ ښه یوهېږو چې په دې خبر کې
به سل په سل تاوان کوو خو
مونږ چې په یو ځل په یوه خبره
سرښورولی دی او اهه مو کړي
بیا له خبرې په شا شوي نه یو
ولو که سر په تنه نوي پاتې
په کانې سل کاله اوبه بهېږي

خو کاڼی خوړین به شو نه یې رنګ بدل شو
منو چې کاڼی ماتېدلی شو خو
ټوټه ټوټه یې خلک وړلی شو خو
دا پورته غرونه هم له کاڼي جوړ دي
د ژرندې پلونه هم له کاڼي جوړ دي
ورانې به نشي دا د کاڼي کربښې
زمونږ لفظونه هم له کاڼي جوړ دي
په متلونو به مو څه سر خوږوم
ټوټه ټوټه پښتونه خدای دې مل شه
نور څه که نه منې خو یو خبره
راسره ومنه ضرور ومنه
هر پوروړی به له پوره خلاص شي
که په ژوند نه وي خو تر ګوره خلاص شي
خو د تاریخ قرض ترقیامته پورې
د پوروړي په اوږو پروت وي

کورمه سده

# غزل

کوم شی چې سخا شي نو اچار ترې جوړ شي
اچار چې سخا شي له اچاره وځي

سوال کوم هغه بیا په کوم ځای پروت وي
چې کوم یو شی یو ځل له کاره وځي

په پېغور خوږ سر به بیا پورته نه شي
غوښه مری بیا له گوزاره وځي

توته توته بیا له آسمانه پرېوځي
چې کوم یو ستوری له مداره وځي

داسې فریاد مې له گوگله وځي
لکه لمبه چې له انگاره وځي

ډېـــر پـــه مشـــکله پکـــې بیـــا ټـــومبی شي
د ســـتنې سیمـــــی چـــې لـــه تـــاره وځـــي

چـــې دې پـــه بـــڼ د بنگـــو بوټـــي کـــرل
اوس بـــه دې خـــود بـــوټ لـــه چنـــاره وځـــي

پـــرون د ښگـــلو جرگـــې پرېـــکړه وکـــړه
چـــې لېونـــي بـــه لـــه دې ښـــاره وځـــي

کـــه پـــه دې لار مـــړ شـــم شـــهید بـــه یـــمه
بیـــا بـــه مـــې ژبـــه لـــه اقـــراره وځـــي

هـــــله ملـــــگرو رســـــوۍ مـــــې ورتـــــه
زر شـــۍ چـــې ســـاه بـــه مـــې پـــر لاره وځـــي

کورمه سده

# نظم

غـوړ شـيځ شـور مـه کـوئ خـبره واورئ
درتـه د تـېر جـبران کیسه کـومـه
ملګـرو ومـو لیـدل وامـوورېـدل
د اقـتدار د غـیراتـیـانـو چـیغې
څه يې ویلـي وو دا څـه يـې وکـړل
يـوه يـې وګـټله سل يـې بايـلل
دومـره سرتنبه سـرتنمبګي څـه په کـار
ناړامـه دومـره ناړمـي څـه په کـار
پخپله نه پـوهـېږې د بـل نـه اورې
د پـردونـه اورې د خـپل نـه اورې
ژاړمـه د خـپلې بـې علمی ژاړمـه
داسـې بې ځـایه سـربـازي ژاړمـه

علاج یې کیږي خو طبیب غواړي
غر نسکورېږي خو ترتیب غواړي
ګټه مو وکړه خو څه مو وګټل
ډېران مو وګټو پټي مو بایلل
د یوې سپړې د وژلو په نیت
تمام پوستین مو په اور واچوو کنه
د غره په دنګو څوکو مه ودرېږئ
چې څومره لوړ وي نو په سر یې لار وي
په دې پوهېږو دا منو موږه چې
د زورورو اوبه په بره خېژي
نور د اوفکیونه څه نه جوړېږي
راشئ یو او بل سره لاسونه ورکړئ
د ورورولۍ او اخوت لاسونه
د خپلولۍ او صداقت لاسونه
د بابا غوښې به ترکومه غواړو
لستوڼي ونغاړئ او کار شروع کړئ
لږ بېړندي شئ چې کاروان ونیسو
چې په اوږو باندې پټکي رایسار شي

کورمه سده

# غزل

پټــوی نـشـــي تـــوره وریـــځ د شـــنه آسمـــان لمـــنه
گـــوندې چـــې وچـــه کـــړي دا لمـــر د بـــاران لمـــنه

خیـــبره زېـــری دې پـــه زوی لاره پـــرې مـــه بـــند وه
پـــه ډېـــر امـــید مـــې غـوړولـــې د ارمـــان لـمـــنه

زمـــا د بخـــت ســـتوری خـــتلی د افـــوق پـــه لمـــن
پـــــه بلالـــــي غـــــږ خـــــوروومه د اذان لمـــــنه

لـــه هنـــد زر لـــه افغانســـتـــانه چـــا سر نـــه دی وړی
هـــر چـــا تـــرې خپـــله برخـــه وړې د تـــوان لمـــنه

زمـا پښـتون لالـی بـه دې مـلک تـه تـوان نـه راوړي
د ســـر پـــه بیـــه بـــه ساتـــي د افـــغا نســـتان لمـــنه

مـــا د جـــندي نـــه ترنـــک تـــر غـــاړې ورســـوی
د مـارگلـــــی نـــــه غـــــځومه تـــــر بـــــولان لمـــــنه

د گلاب رنـګ سـور دی زمـا د وینـو رنـګ هم سـور دی
پـه ویـنو سـره د هـر پښـتون ده تـر بغـلان لمـنه

# غزل

هیــڅ عقوبــت او پایــله نــه لــري بغیــر لــه دې چــې
زړه لــکه کانــی د دښــمن پــه مقابــل کــې ښــه دی

غــرو کــې د وسي خــو پـه غــرو دې اعتــبار نـه کــوي
یـار مـلا تړلـې د مېـږي پـه شـان مـزل کـې ښـه دی

چیــرته د لارې پــه اوږدو کــې بــه ســره وگــورو
اوس تـرمنزلــه پــه اجــل او پــه تاکــل کــې ښــه دی

مونــږ د روانــو اوبــو خــلک یــو روان غــرېږو
کـړ د لغـات خـو پـه سیاسـت یـا پـه غـزل کـې ښـه دی

ددې رنځــور پــه ژونــد تــر ډېــره اعــتبار مــه کــوه
سترگـو ویشـتلی پـه کـمبل یـا پـه څنـگل کـې ښـه دی

ښــه دی ډېــر ښــه دی پـه ډنـډر پـورې گـلاب (تـرابه)
گل پـه اوربـل کې ښه دی یا گل پـه منـگول کـې ښـه دی

# غزل

چـا پـه قـلم چـا پـه خنجـر بانـدې وهلـي زړونـه
چـا په قنداغ چـا پـه ټوپـک بانـدې ویشـتلي زړونه

پــه گــوړه مـــرو زمـونـــږه زهرتــه حاجــت نـــشته
مونـــږ پــه یــوه خــواږه خبــر بانـدې بایللــي زوړنــه

زمـــانه دوه زړونـــه ورک شـــوي زمـــا دوه بچـــي وو
کـه چـا وي چیـرته پـه دې لارو کـې مونـدلي زړونـه

گټـه تـوان او ســر او مـال مــو ورتـه مخـکې ایـښي
پـس لــه هغــې نــه مــو ددې خــلکو گټلــي زړونــه

زه د خپـل قـوم تـر مخ د سولې سپیـن بـیراغ ولاړیـم
سپیـــنو کـوتـــرو تــه د امـــن مــونږ ښښــلي زړونــه

چـورلـکې راغللـې عـادي لـه کلـي بیـا تـاوې شـوې
حـیران هــر چـا پـه دوارو لاســه دي نیـولـي زړونـه

د سیاســت د زهــریله مــارانو جنــگ، کـې ښکـېل یـو
لــه دې هیــبته مــو د خـولــو نــه راوتلــي زړونــه

# غزل

په لوېشته ځمکه د هم پل د کېښودو نه پرېږدو
هله کې بيا ترمنځ زما او د قارون جنګ دی

جنګ له عدمه تر دې دمه تپل شوی پر مونږ
څه داسې نه ده چې د نن او د پرون جنګ دی

خو دا مو د بل تعارضونه د خان دفاغ کړېده
پخپله خاوره مو پخپل ژوند واويلا کړېده

د سامري جوړ کړي سخي سره به بيا ګورو خو
اوس خدايه خير کړې د موسى او د قارون جنګ دی

ټوپک د بل دی ماشه او سينه دواړه زما
زما په خاوره د پښتون او د پښتون جنګ دی

# غزل

ګرانه په ګرانه به ترتا روغه لمنه وړمه
څکه له څانه سره خپله تار او ښتنه وړمه

عجیبه ښار دی ګوري غل دغله لاسونه تړي
بانه په چور ګډ دي د سترګو غله دغله نه وړمه

چې ترکنډو یې بدرګه کړه قافله د دښمن
دغه بود ري به له تربوره که له دښمنه وړمه

هندي بانه دې اوس د سترګو مړي نه سوځوي
آتش کدو ته دې م شونډو اور د زړه نه وړمه

# غزل

آ پرونـــۍ نـــشه مـــې ســـترگو کـــې ده
ستا د خـولگــۍ نشـه مـې سترگــو کـې ده

د هـــغه رســـې لـــه خمـــار یـــم گلـــې
د ازادۍ نـــشه مـــې سترگـــو کـــې ده

د ایـــوب خـــان د لاس تـــوره یمـــه
سره مېـــوندۍ نشـــه مـې سترگـــو کـې ده

زم زم پـــه جـــام او خـــوم نـــه کمېـــږي
وږه تـرې ډالـۍ نـشه مـې سترگـو کې ده


د شـــعر پـه نیلـــي کهکـــشان تـــه خیـــژم
ستورو سپوږمۍ نـشه مـې سترگو کې ده

# د مطیع الله تراب بیوګرافي

ښاغلی مطیع الله تراب د نني دور هغه وتلی او پطژندل شوی شاعر دی، چې د هېواد لوی او واړه یې له نوم او شاعرۍ سره اشنا دی.
مطیع الله تراب د اروابناد مولوي رسول دوست زوی او د اروابناد الله دوست لمسی له نن څخه ۴۶ کاله پخوا (۱۳۵۰) هـ ش کال د ننګرهار (همېشه بهار) ولایت د خوګیاڼیو ولسوالۍ د کوز بهار د کاله خپلو کلي په یوه دینداره کورنۍ کې سترګې پرانستې.
تراب په څلورم ټولګي کې و، چې ګران هېواد ته جنګونو او ګډوډیو لاره راوکړه، دی هم لکه د نورو افغانانو په څېر له خپلې کورنۍ سره ؛ و خای خپل ګاونډي هېواد ته مهاجر او د پېښور په بډه بېره سیمه کې مېشت او بیا یې له هغه خایه کورمې صدې ته کوچ وکړ هجرت او غربت و چې مطیع الله تراب یې د تعلیم له عظیم نعمت څخه بې برخې کړو.
تراب صاحب په هېواد کې شته ستونزو ډېر خوراوه، همدا علت و چې شاعري یې پیل کړه تر دې دمه یې په زیاته پیمانه شاعري کړې او څو چاپ شوي اثار هم لري لکه غبار پر هېندارو، للمي ګلونه، د کاڼي اوبه، مطیع الله تراب او د هغه شاعري او تراب پېژندنه.
دا چې تراب صاحب پدې کتاب کې څه ډول شاعري کړې وروسته ددې کتاب تر لوستلو به پوه شئ؛
ښاغلي مطیع الله تراب ته د کتاب د چاپولو مبارکي وایم او تاسو یې لوستلو ته رابولم.

په خورا پښتنه مینه

عرفان الله شېرزاد


سپین بغاوت
شاعر: مطیع الله تراب